څېړوندی محمدسرور احمدزی

# د امریکا او منځنۍ آسیا هېوادونو اړیکې

## The Relationships of the US and Central Asian Countries

Researcher M. Sarwar Ahmadzai

**Abstract:** Washington wants to overview its foreign policy with Central Asia following the withdrawal of foreign troops from Afghanistan. After September 11 attacks on the American soil in 2001 and the subsequent invasion of Afghanistan by the United States, the US foreign policy for Central Asian countries had direct impact on the war in Afghanistan, during this time, the US needed Central Asian countries cooperation for transiting logistics to its troops being deployed in Afghanistan and the current war there helped boosting cooperation between the US and the Central Asian countries. However, rampant corruption, bad governance and violation of human rights in Central Asian countries were in conflict with US interests and values. The drawdown of US troops from Afghanistan paved the way for US to overview its foreign policy with Central Asian countries. Meanwhile, the exit of US troops and it's disengagement from the region worried leaders of Central Asian countries over threats to their national security and undermining their national sovereignty by China and Russia. After the withdrawal of US troops from Afghanistan, Central Asian countries would lose their importance and

value for the US but bad governance and weak institutions would facilitate the ground for political instability in Central Asian countries. Two important countries of Central Asia suck as Tajikistan and Kazakhstan have already faced leadership issues. Weak governance and failed policies can help radicalization of Islamic groups in Central Asia and these groups would be influenced by global Jihadi groups' ideology. There is fear of precious situation which existed before 2001 and to quell these threats of radical groups, Central Asian countries would use force and pressure. Regional stability and security would face daunting challenges if the US pulled out its troops from Afghanistan. The most important issue for United States is to prevent rising threats in the region and don't let the region to turn into a safe haven of anti -American elements and not to cause tensions among regional countries. The United States tries to work together with NATO, Russia, China, Pakistan and Central Asian countries to prevent possible chaos in the region and is concerned over the increasing role and influence of Russia, India, China and Iran in the Central Asian countries. After the departure of foreign troops from Afghanistan, the US would continue its collaboration with the Central Asian countries to enhance economic cooperation, preserve its national interests and make all out efforts to prevent threats to regional stability. The current war and instability in Afghanistan could have remarkable effect on the nature of relationship and cooperation between the US and Central Asian countries.

**لنډیز**

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو پرمهال واشنګټن غواړي د منځنۍ آسیا هېوادونو پر وړاندې خپلې بهرنۍ تګلارې ته بیاکتنه وکړي. د ۲۰۰۱ ز. کال د سپټمبر د ۱۱ مې له بریدونو وروسته د منځنۍ آسیا هېوادونو پر وړاندې د امریکا بهرنۍ تګلارې په افغانستان کې د امریکا له جګړې سره مستقیم تړاو درلود، په دې موده کې امریکا په افغانستان کې خپلو سرتېرو ته د اکمالاتو لپاره د منځنۍ آسیا هېوادونو مرستې او همکارۍ ته اړتیا درلوده. په افغانستان کې جګړې د منځنۍ آسیا هېوادونو او امریکا

ترمنځ د همکاریو له پراختیا سره مرسته وکړه، خو له دې سره له منځنۍ آسیا هېوادونو سره همکاریو د امریکا ګټو باندې منفي اغېز درلود په منځنۍ آسیا کې د پراخ اداري فساد شتون، بده حکومتولي او له بشري حقوقو څخه سرغړونې د امریکا له ارزښتونو او ګټو سره په ټکر کې دي. په افغانستان کې د ځواکونو کمولو د امریکا لپاره د دې زمینه برابره کړې چې د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره خپلو اړیکو ته بیاکتنه وکړي، خو په ورته وخت کې له سیمې څخه د امریکایي ځواکونو وتلو او په سیمه کې د امریکا د ښکېلتیا کمېدو د منځنۍ آسیا هېوادونو د مشرانو اندېښنې راپارولي، هغوی په دې اند دي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به له یوه لوري د هغوی ملي امنیت له جدي ګواښونو سره مخامخ کړي او له بل لوري به د چین او روسیې پروړاندې د دوی ملي حاکمیت کمزوری کړي.

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د منځنۍ آسیا هېوادونو ارزښت او اهمیت د امریکا لپاره لږ شي، خو په منځنۍ آسیا هېوادونو کې بده حکومتولي او کمزوري دولتي بنسټونه په منځنۍ آسیا کې د سیاسي بې ثباتۍ لپاره زمینه برابرولای شي. د منځنۍ آسیا دوه مهم هېوادونه ازبکستان او قزاقستان د رهبرۍ له ستونزو سره مخامخ دي. کمزورې حکومتولي او ناکامه پالیسۍ د دې وېره زیاتوي چې اسلامي ډلې به توندلارې کړي او هغوی به له نړیوالو جهادي ډلو له ایډیالوژۍ څخه اغېزمنې شي او داسې حالت چې له ۲۰۰۱ ز. کال وړاندې په سیمه کې موجود و یو ځل بیا رامنځ ته شي.د مذهبي ډلو ګواښونو له منځه وړلو په موخه به د منځنۍ آسیا دولتونه له زور او فشار څخه کار واخلي او په پایله کې به یې ولسواکي او ډیموکراسي په منځنۍ آسیا کې ډېره کمزورې شي او له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به د سیمې ثبات له جدي ننګونو سره مخامخ شي او په عمومي ډول به د سیمې ثبات او امنیت ګډوډ شي.

دامریکا مشرانو لپاره تر ټولو مهمه موضوع دا ده چې څنګه کولای شي په سیمه کې د نویو ګواښونو د رامنځ ته کېدو مخه ونیسي او اجازه ور نه کړي چې سیمه یو ځل بیا د امریکا ضد توندلارو ډلو په خوندي پټنځای بدله شي او یا هم د سیمې هېوادونو ترمنځ د کړکیچ زیاتېدو سبب شي. امریکایان هڅه کوي چې روسیه، چین، هند، ناټو، پاکستان او منځنۍ آسیا هېوادونه په ګډه کار سره وکړي او په سیمه کې د ګډوډۍ د رامنځ ته کېدو مخه ونیسي، خو په ورته وخت کې امریکایان په منځنۍ آسیا کې د روسیې او ایران د رول د پراختیا په اړه اندېښمن دي او په دې پوهیږي چې په منځنۍ

آسیا کې د روسیې، چین، هند او ایران اغېز د زیاتېدو په حال کې دی. له افغانستان څخه د ځواکونو له وتلو وروسته به امریکایان هڅه وکړي چې په سیمه کې د اقتصادي همکاریو د پراختیا، د خپلو ملي ګټو خوندیتوب او د سیمه ییزې بې ثباتۍ مخنیوي په موخه د منځنۍ آسیا هېوادونو سره همکاریو ته دوام ورکړي. په افغانستان کې روانه جګړه او بې ثباتي به په راتلونکې کې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا د اړیکو او همکاریو په ځرنګوالي د پام وړ اغېز ولري.

## سریزه

په افغانستان کې د جګړې او بې ثباتۍ له امله د منځنۍ آسیا هېوادونو د امریکا په بهرني سیاست کې ځانګړی ځای پیدا کړ او منځنۍ آسیا د یوې مهمې ستراتېژیکې سیمې په حیث د امریکا پاملرنه ځانته راواړوله، خو له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو په صورت کې به منځنۍ آسیا ته د امریکا پاملرنه لږه شي او د امریکا په نړیوالې ستراتېژۍ کې به د منځنۍ آسیا پرځای د آسیا فاسپیک سیمه مهم ځای پیدا کړي.له بل لوري په افغانستان کې له یوې اوږدې جګړې وروسته امریکایان غواړي چې خپل پوځي مصارف او لګښتونه رالږ کړي. د امریکا په بهرني سیاست کې پورتني بدلونونه به د منځنۍ آسیا ثبات له ګواښونو سره مخامخ کړي او امریکا او نړیوالې ټولنې ته به د نویو ستونزو د رامنځ ته کېدو سبب شي. له همدې امله د امریکا متحده ایالتونه له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو ویستلو پرمهال مجبور دي چې د افغانستان ترڅنګ د منځنۍ آسیا هېوادونوو سره اړیکې وساتي، له منځنۍ آسیا سره د امریکا د اړیکو موخه باید د سیمه ییزې همکارۍ پراختیا او د منځنۍ آسیا د کمزورو دولتونو پیاوړي کول اوسي. په لنډ مهال او تر یوې مودې پورې به منځنۍ آسیا د امریکا لپاره ارزښت ولري او دهغې لامل په منځنۍ آسیا کې کمزوري دولتونه دي. امریکایان وېره لري چې د منځنۍ آسیا د بې ثباتۍ په ترڅ کې سازمان شوي جرایم او توندلاریتوب پراختیا پیدا کړي او د منځنۍ آسیا ډېری اوسېدونکي به کډوالۍ ته مجبور شي.

د منځنۍ آسیا کمزوري دولتونه په خپلو منځونو کې بې اتفاقي او ستونزې لري او د دې وړتیا او ظرفیت نه لري چې په سیمه کې د جرایمو، نشه یي توکو او توندلارو ډلو پر ضد مبارزه وکړي. منځنۍ آسیا په راتلونکې کې د روسیې، چین او امریکا ترمنځ د سیالۍ په میدان بدلیدلای شي خو د منځنۍ آسیا د کمزورو دولتونو د ړنګېدو او د نشه یي توکو او توندلارو ډلو د خپرېدو ویره به ستر ځواکونو وهڅوي چې په منځنۍ آسیا کې له جیوپولټیکي سیالۍ څخه ډډه وکړي.د سترو قدرتونو سیالي او مداخله به د منځنۍ آسیا د کمزورو دولتونو ثبات له ګواښ سره مخامخ کړي د افغانستان مهمه

راتلونکې او د امریکا رول منځنۍ آسیا دولتونه له نویو ستونزو سره مخامخ کولای شي.امریکا د منځنۍ آسیا پر وړاندې د بهرنۍ ستراتېژۍ په جوړولو کې له ګڼو ستونزو سره مخامخ ده. له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د امریکا لپاره د منځنۍ آسیا ارزښت او اهمیت لږ شي. په منځنۍ آسیا کې به د روسیې، چین او هند رول او اغېز پراختیا پیدا کړي.

په سیمه کې د ناکامه دولتونو رامنځ ته کېدل به د امریکا امنیت له ګواښ سره مخامخ کړي. په منځنۍ آسیا کې بې ثباتي د امریکا ګټې له ګواښ سره مخامخ کولای شي. امریکا د چین او روسیې په مرسته کولای شي منځنۍ آسیا له نړیوال اقتصاد سره وصل کړي له همدې امله په منځنۍ آسیا کې د چین او روسیې د اغېزې کمولو هر ډول هڅې به له یوه لوري له ناکامۍ سره مخامخ شي او له بل لوري په منځنۍ آسیا کې د ثبات او ټینګښت مخه ونیسي.

په ورته وخت کې له سیمې هېوادونو سره د امریکا اوږدمهاله اقتصادي او سیاسي همکاریو ته جدي اړتیا لیدل کېږي. چین او روسیه د دې وړتیا نه لري چې په سیمه کې سوله او ثبات ټینګ کړي. اروپایي اتحادیه هم مثبت رول ترسره کولای شي، خو اوسمهال اروپایي هېوادونه په خپلو کې د یو شمېر مهمو مسایلو په اړه واحد نظر نه لري.

د منځنۍ آسیا د هېوادونو مشران په دې پوهېږي چې امریکا ورسره د کورنیو او سیمه ییزو ستونزو په حل کې ډېره مرسته کولای شي. د دې ترڅنګ هغوی په دې اند دي دا چې امریکا یو سیمه ییز ستر قدرت نه دی، نو له همدې امله له امریکا سره اړیکې او همکاري به د منځنۍ آسیا هېوادونو سره مرسته وکړي چې د سیمې له هېوادونو سره په اړیکو کې توازن رامنځ ته کړي. د یو مهم او مثبت رول ترسره کولو لپاره مهمه ده چې امریکا د منځنۍ آسیا د هېوادونو پروړاندې خپلواکه بهرنۍ تګلار ولري داسې تګلار چې د افغانستان پروړاندې د امریکا له بهرني سیاست څخه به زیاته اغېزمنه نه وي.

تراوسه پورې منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا اړیکې تر ډېره حده پورې په افغانستان کې په روانې جګړې او په پوځي همکماریو پورې تړلې ګڼل کېږي. امریکا د منځنۍ آسیا دولتونو داخلي او سیمه ییزو ستونز حل ته زیاته پاملرنه نه ده کړې. په افغانستان کې روانې جګړې د منځنۍ آسیا ۵ هېوادونو ترمنځ په کمه کچه همکاري رامنځ ته کړې چې دوام یې د امریکا د سیاسي فشارونو او اقتصادي مرستو پرته ستونزمن دی.د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران په سیمه کې د امریکا د شتون په اړه په راتلونکې کې ډاډه نه دي له همدې امله هغوی یو له بل سره اړیکو ته له پراختیا ورکولو ډډه کوي او د منځنۍ آسیا هر هېواد د

افغانستان پر وړاندې ځانګړې لید لوری لري، خو له بلې خوا په منځنۍ آسیا کې د امریکا اوږدمهاله پوځي شتون د روسانو اندېښنې زیاتوي.

له افغانستان څخه د ځواکونو له ویستلو وروسته به له منځنۍ آسیا، چین او روسیې سره د متوازنو اړیکو ساتل د امریکا لپاره یوه ستونزمنه موضوع وي. خو سره له دې امریکایان به هڅه وکړي چې په منځنۍ آسیا کې د توندلاریتوب د پراختیا مخه ونیسي.په منځنۍ آسیا کې له اصلاحاتو ملاتړ وکړي او له ماسکو او بیجنګ سره په سیمه کې د ثبات د ټینګښت په موخه همکاري رامنځ ته کړي.

خو امریکایان مجبور دي له روسیې او چین سره د همکارۍ په برخه کې احتیاط وکړي؛ ځکه چې امریکا غواړي له افغانستان څخه د ځواکونو له ویستلو وروسته د منځنۍ آسیا هېوادونو سره پوځي همکاري ولري او له بل لوري له هر هېواد سره په خپلواکه توګه دوه اړخیزې اړیکې تنظیم کړي. دا هغه څه دي چې روسان او چینایان یې په اړه اندېښنې لري. د دې ترڅنګ امریکا او متحدین یې هڅه کوي د خپلو ځواکونو له ویستلو وروسته په افغانستان کې خپلې لاسته راوړنې خوندي وساتي، په افغانستان کې د بې ثباتۍ پراختیا او د جګړې دوام په سیمه ییزه او نړیواله کچه د امریکا ګټو، موخو او اعتبار ته د پام وړ زیان ورسوي.

**د څېړنې هدف:** ددې څېړنې هدف د منځنۍ آسیا پروړاندې د امریکا او روسیې د بهرنیو تګلارو او د امریکا او د منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ د اړیکو او همکاریو د څرنګوالي څېړل دي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:** منځنۍ آسیا چې د طبیعي منابعو پراخې زېرمې لري په دې وروستیو لسیزو کې یې د نړۍ د سترو قدرتونو او په ځانګړې توګه د چین، امریکا او اروپایي اتحادیې پاملرنه یې ځانته راااړولې ده. د ۲۰۰۱ ز. کال د سپټمبر ۱۱مې بریدونو په نړیوال سیاست کې ژور بدلونونه رامنځ ته کړل چې له مخې یې افغانستان د امریکا په بهرني سیاست کې ځانګړی ځای پیدا کړامریکا په افغانستان کې د خپلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه د منځنۍ آسیا هېوادونو سره نږدې اړیکې رامنځ ته کړې او په دې توګه د امریکا او منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ همکاریو پراختیا پیدا کړه.

د منځنۍ آسیا هېوادونه چې د افغانستان په ګاونډ کې موقعیت لري له سیاسي او اقتصادي پلوه د نړۍ د سترو قدرتونو لپاره ځانګړی ارزښت او اهمیت لري. په دودیز ډول منځنی آسیا د روسیې د اغېزې او نفوذ سیمه ګڼل کېږي، خو سره له دې په دې وروستیو کې په منځنۍ آسیا کې د امریکا او چین رول او اغېزې پراختیا پیدا کړې ده. امریکا له

۲۰۰۱ زکال وروسته د مرکزی آسیا په یو شمېر هېوادونو کې پوځي اډې جوړې کړې او په دې توګه یې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره مالي او اقتصادي مرستې پیل کړې.

روسان بیا په منځنۍ آسیا کې د امریکا د پوځي شتون له دوام سره مخالف دی او په دې اړه اندېښنې لري. امریکا چې د نړۍ یو مهم او ستر قدرت دی او له ۲۰۰۱ زکال راهیسې په افغانستان کې پراخ سیاسي، پوځي او اقتصادي شتون لري، د سیمې له هېوادونو سره یې اړیکې او د سیمې هېوادونو پروړاندې یې بهرنۍ تګلارې د افغانستان په سیالي، اقتصادي او امنیتي حالاتو مستقیم اغېز لري. ددې ترڅنګ د منځنۍ آسیا هېوادونه چې د افغانستان په ګاونډ کې موقعیت لري. داخلي وضعیت بهرنۍ تګلارې یې د افغانستان په حالاتو مستقیم اغېز لري. له همدې امله د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا د اړیکو څېړل د افغانستان لپاره ځانګړی ارزښت او اهمیت لریي. دغه څېړنیز اثر به د افغانستان له حکومتي او سیاسي مشرانو، پالیسي جوړونکو او علمي شخصیتونو او څېړونکو سره د منځنۍ آسیا هېوادونو او د امریکا متحدو ایالتونو پروړاندې د بهرنۍ تګلارې او پالیسي جوړولو په برخه کې د پام وړ او زیاته مرسته وکړي. د سیمې هېوادونو د بهرنیو تګلارو، اړیکو او د نړۍ له سترو قدرتونو سره د هغوی د مناسباتو په اړه هر ډول لیکنې، څېړنې او موندنې د افغانستان له حکومتي چارواکو او پالیسي جوړونکو سره مرسته کوي، څو د سیمې هېوادونو د کورنیو حالاتو، اهدافو، ګټو او د سیمې د سترو قدرتونو ستراتیژیو په اړه معلومات ترلاسه او یادو معلوماتو له مخې معقولې او علمي بهرنۍ تګلارې رامنځ ته او عملي کړي.

**د څېړنې میتود او ډول:** ددې څېړنیز اثر په لیکلو کې د څېړنې له تحلیلي او توصیفي میتود څخه استفاده شوې او د څېړنې ډول کتابخانه یي دی.

**لومړی: منځنۍ آسیا او د افغانستان جګړه**

د ۲۰۰۱ زکال په اکتوبر کې په افغانستان له پوځي برید سره سم د امریکا متحدو ایالتونو د منځنۍ آسیا له پنځو دولتونو سره نږدې همکاري او اړیکې رامنځ ته کړې او په دې توګه امریکا په افغانستان کې د خپلو پوځي عملیاتو لپاره د منځنۍ آسیا هېوادونو مرسته او ملاتړ ترلاسه کړ. د منځنۍ آسیا هېوادونو غوښتل په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت، د روسیې او چین د رول او اغېزې د پراختیا د مخنیوي او د اقتصادي مرستو ترلاسه کولو په موخه په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د نړیوال ائیتلاف له ځواکونو سره همکاري وکړي او امریکا ته اجازه ورکړي چې د دوی له خاورې او

فضاء څخه افغانستان ته د خپل پرسونل او توکو د لیږد په موخه د ترانزیتي لارې په توګه استفاده وکړي.

د دې ترڅنګ د منځنۍ آسیا دولتونو د حامد کرزي په مشرۍ د افغانستان له مرکزي حکومت څخه ډیپلوماتیک ملاتړ پیل کړ او په دې توګه یې افغانستان کې د سترو نړیوالو پروژو له تطبیق سره مرسته وکړه له افغانستان سره جغرافیایي نږدې والی او د طالبانو پر ضد جګړه کې له امریکا سره همکاري د امریکا او منځنۍ آسیا ګټې یو له بل سره وتړلې او په سیمه کې یې د امریکا شتون په بې ساري ډول زیات کړ. د لوېدیځ سیاسي او مالي ملاتړ او همکاریو د سیمې له هېوادونو سره د کورنیو او سیمه ییزو ستونزو په حل کې ډېره مرسته وکړه، خو له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو او د امریکا په بهرني سیاست کې د منځنۍ آسیا دولتونو د ارزښت او اهمیت له کمېدو وروسته به د منځنۍ آسیا دولتونه یو ځل بیا د پخوا په څېر له ګڼو ستونزو سره مخامخ شي.

لوجستیکي اسانتیاوې برابرول او پوځي اډې ورکول د افغانستان په جګړه کې له امریکا سره د منځنۍ آسیا دولتونو د همکارۍ مهمه برخه جوړوله. د ۲۰۰۲ زکال له پیل کېدو وړاندې واشنګټن له قرغزستان او ازبکستان سره تړونونه لاسلیک کړل چې له مخې به یې امریکایي ځواکونو په یادو هېوادونو کې پوځي اډې جوړې کړي او په دې توګه امریکا د قرغزستان په مناس او د ازبکستان په خان آباد کې خپل پوځونه ځای پرځای کړل. د امریکا هوایي ځواکونه له مناس پوځي اډې څخه افغانستان ته د ځواکونو د استولو او بېرته ایستلو د ترانزیتي لارې او الوتکو ته د تېلو برابرولو په موخه استفاده کوله.[1]

تر ۲۰۱۲ زکال پورې له ۴۰۰۰۰۰ څخه زیات امریکایي پرسونل د مناس اډې له لارې افغانستان ته تللي او بېرته ستانه شوي وو. په ۲۰۰۵ ز. کال کې د ازبکستان په اندیجان کې له تاوتریخوالي وروسته امریکا په ازبک چارواکو سختې نیوکې وکړې چې په پایله کې یې ازبکستان په خان آباد کې د امریکا پوځي اډه بنده کړه. تر ۲۰۰۵ زکال پورې امریکایي ځواکونو د خان آباد له پوځي اډې څخه د هوایي او ځمکني ترانسپورټ د یوې لارې په توګه استفاده کوله، د دې ترڅنګ په یاده پوځي اډه کې ځانګړې امریکایي ځواکونه او جنګي الوتکې هم ځای پرځای شوې وې. آیساف له تاجکستان سره مستقیمه پوځي همکاري درلوده چې له مخې یې د نړیوال ائتلاف جنګي الوتکو د تېلو اخیستلو په موخه د تاجکستان له هوایي او فضاء میدانونو استفاده کوله او د دې ترڅنګ فرانسوي جنګي الوتکې د دوشنبې په هوایي ډګر کې ځای پرځای شوې وې.ترکمنستان د تیلو اخیستلو او بشري مرستو

رسولو په موخه د نړیوال ائتلاف هوایي الوتکو له خپلې فضاء او خاورې د استفادې کولو اجازه ورکړې وه او قزاقستان نړیوال ائیتلاف الوتکو له خپلې فضاء او هوایي میدانونو څخه د ګټې اخیستلو اجازه ورکړې وه.[۲]

همدارنګه په ۲۰۱۳ زکال کې قزاقستان فرانسویانو ته له یوې نوې ترانزیتي لارې څخه د ګټې اخیستلو اجازه ورکړه. په ۲۰۰۹ زکال کې امریکا او د ناټو غړو هېوادونو له روسیې او د منځنۍ آسیا هېوادونو سره تړونونه لاسلیک کړل چې له مخې به یې په افغانستان کې مېشتو نړیوالو ځواکونو ته د شمال له لارې غیر جنګي توکي لکه: موټر، د بیا رغونې وسایل او شخصي توکي لېږدېدل او په دې توګه په افغانستان مېشتو امریکایي او ناټو ځواکونو له شمال ترانزیتي لارې څخه ګټه اخیستل پیل کړل.[۳]

د شمال ترانزیتي لارې له پرانېستلو وړاندې په افغانستان کې مېشتو امریکایي ځواکونو ته ۹۰ سلنه توکي د پاکستان د کراچۍ بندر او ځمکې له لارې لېږدېدل د ۲۰۱۱ زکال په وروستیو کې امریکایي سرتېرو ته ۳۰ سلنه د اړتیا وړ توکي د شمال له لارې، ۳۱ سلنه د هوا له لارې او ۲۹ سلنه د پاکستان له لارې لېږدېدل.[٤]

د امریکا متحدینو او ملګرو هېوادونو هم د شمال ترانزیتي لارې په وسیله په افغانستان کې خپلو مېشتو سرتېرو د اړتیا وړ توکي استول، د شمال له لارې افغانستان کې مېشتو امریکایي ځواکونو ته د توکو لېږد د منځنۍ آسیا هېوادونو لپاره د پام وړ مالي او ستراتېژیکې ګټې له ځان سره درلودې. دا چې امریکا دترانزیټ او لوجستیک په برخه کې د منځنۍ آسیا هېوادونو مرستې ته اړتیا درلوده له همدې امله یې د منځنۍ آسیا په دولتي مشرانو نیوکې بندې کړې. د پاکستان د ترانزیتي لارې په پرتله د شمال ترانزیتي لار خوندي او د ډاډ وړ وه، خو سره له دې د پاکستان ترانزیتي لارې په پرتله د شمال ترانزیتي لار له مالي پلوه په لوړ قیمت تمامېده هر کانتینر چې د شمال له لارې لېږدېده پرې ۱۷۵۰۰ ډالر لګښت او هر کانتینر چې د پاکستان له لارې لېږدېده پرې ۷۲۰۰ ډالر لګښت راتلو.[٥] له ترکمنستان پرته د منځنۍ آسیا څلورو دولتونو چې ناټو او امریکایي ځواکونو ته یې ځمکنۍ لارې ورکړې وې هر کال یې ۵۰۰ میلیونه ډالره د ترانزیټ په توګه ترلاسه کول. د ۲۰۱۲ زکال په جون کې ناټو سازمان قرغزستان، قزاقستان او ازبکستان سره یو نوی تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په صورت کې د شمال له لارې ناټو سازمان خپل وسایل او توکي بېرته وړل.د ناټو مالي مرستې د دې سبب شوې چې د منځنۍ آسیا هېوادونه خپل منځي اختلافونو څخه تېر شي او ناټو سازمان ته د ترانزیتي لارې له ورکولو سره توافق وکړي. باید وویل شي چې د ناټو مالي مرستې د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې د اداري فساد د پراختیا سبب شوې د منځنۍ آسیا هېوادونه په افغانستان کې له پراختیایي پروژو سره مرسته او

همکاري کوله. قزاقستان په خپلو پوهنتونو کې افغان محصلینو او چارواکو ته د روزنې شرایط برابر کړي وو.او له افغانستان سره یې د ۸میلیونو ډالرو مرستې ژمنه کړې وه.[٦]

د آسیایي پراختیایي بانک په مالي مرسته د ازبکستان د ریل ملي شرکت له حیرتان څخه تر مزار شریف پورې ریل لاره جوړه کړې چې په ۲۰۱۱ ز. کال کې ترې ګټه اخیستل پیل شول او په دې توګه افغانستان د ریل لارې په وسیله له بهرنۍ نړۍ سره وصل شو. تاشکند غواړي چې پورتنۍ د ریل لاره د افغانستان نورو سیمو ته هم وغزوي او په دې توګه به ازبکستان لپاره ددې زمینه برابره شي چې د سویلي آسیا له هېوادونو سره سوداګرۍ ته پراختیا ورکړي. ازبکستان له نړیوالې ټولنې سره په ګډه کار کوي څو په آمو دریا باندې نوي پلونه جوړ کړي. په دې وروستیو کلونو کې ازبکستان افغانستان ته د برېښنا په یو ستر صادرونکي هېواد بدل شوی دی د نړیوالې ټولنې په مرسته له ازبکستان څخه افغانستان د برېښنا د لېږد لاینونه وغزول شول، د یادولو وړ ده چې ازبکستان په ۲۰۱۳ زکال کې ۱,۲ بیلیون کیلو واټه برېښنا په افغانستان پلورلې وه.

ترکمنستان له افغانستان سره د بیارغونې په ځینو پروژو کې مرسته کړې او دغه هېواد د ټاپي پروژې له تطبیق څخه په کلکه ملاتړ کوي. قرغزستان د ملګرو ملتونو د خوراک نړیوالې ادارې ته اجازه ورکړې چې له خاورې یې په استفادې د افغانستان بېلابېلو برخو ته مرستې ورسوي. ددې ترڅنګ قرغزستان په خپله خاوره کې یو شمېر افغان کډوالو ته د اوسېدو اجازه ورکړې. تاجکستان او قرغزستان د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د تطبیق لپاره له یو شمېر هېوادونو او نړیوالو بانکونو د مالي مرستو ترلاسه کولو غوښتنه کړې. د کاسا ۱۰۰۰ پروژې په وسیله به د قرغزستان او تاجکستان برېښنا افغانستان او پاکستان ته ولېږدول شي.

تاجکستان او قرغزستان د خپلې برېښنا د صادرولو او پلورلو لپاره یو شمېر پروګرامونه رامنځ ته کړي، خو د ازبکستان مشران بیا هڅه کوي چې د خپلې برېښنا د تولید ظرفیت زیات کړي او خپلې برېښنا ته مارکیټ پیدا کړي.د تاجکستان او قرغزستان له لوري د بندونو جوړول او د برېښنا صادرول به له یوه لوري د ازبکستان زراعت ته زیان ورسوي او له بل لوري به له سیاسي پلوه د ازبکستان موقف کمزوری کړي.[٧]

**الف ـ سیمه ییزې سیالۍ**

د منځنۍ آسیا هېوادونو یو له بل سره سیالي لري د همدې سیالۍ او اختلافونو له امله یاد هېوادونه د افغانستان پروړاندې واحد لید لوری او نظر نه لري د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د منځنۍ آسیا یو شمېر هېوادونو له روسیې سره په ګډه د طالبانو له مخالفو وسله والو ډلو څخه ملاتړ کاوه.[٨]

د منځنۍ آسیا یو شمېر هېوادونه اوس هم د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه کوي. د ۲۰۱۱ زکال په نومبر کې د افغانستان په اړه د آسیا زړه هېوادونو کنفرانس د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا او د افغانستان په کورنیو چارو کې د نه مداخلې په اړه پرېکړه لیک صادر کړ، خو ازبکستان د یاد پرېکړه لیک له لاسلیک څخه ډډه وکړه. د پرېکړه لیک د لاسلیک په صورت کې تاشکند نه شول کولای د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې ته دوام ورکړي د افغانستان گاونډیان له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته وضعیت په اړه اندېښنې لري. له همدې امله غواړي چې د افغانستان په چارو کې د احتمالي مداخلې په اړه امکانات له ځان سره خوندي وساتي.[۹]

د سیمې هېوادونو متضادو تگلارو د افغانستان او سیمې حالات ډېر کړکېچن کړي، چې له امله یې افغانستان او سیمه له یو مبهم او نامعلوم راتلونکي سره مخامخ دي. د سیمې هېوادونه یوازې د افغانستان ترڅنگ د نورو مسایلو په اړه هم یو له بل سره اختلافونه لري قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان یو له بل سره د پولو ټاکلو پر سر اختلافونه لري، قزاقستان او ازبکستان د سیمه ییزې رهبرۍ لپاره یو له بل سره په سیالي بوخت دي. همدارنگه قومي اختلافونه او د منابعو ویش په اړه بېلابېل نظریات په منځنۍ آسیا کې شته دي. په ځانگړې توگه د تاجکستان او ازبکستان ترمنځ اړیکې او مناسبات زیات خراب دي او دواړه هېوادونه یو له بل سره په سیالۍ بوخت دي.

د سیمې هېوادونو ترمنځ بې اعتمادي د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې ستر خنډ او په سیمه کې د بې ثباتۍ د پراختیا یو مهم لامل گڼل کېږي. قزاقستان او قرغزستان یو له بل سره د سوداگرۍ پر سر اختلافونه لري چې له امله یې د نړیوالې سوداگرۍ په سازمان کې د قزاقستان غړیتوب ځنډېدلی دی. سخت سوداگریز مقررات او په تکراري توگه د پولو بندېدل په سیمه کې د سوداگرۍ د پراختیا مخه نیولې.[۱۰]

تاشکند له ۲۰۰۹ زکال راهیسې په تکراري توگه د تاجکستان پروړاندې د ریل لاره بنده کړې ده. د ۲۰۱۲ زکال په ډسمبر کې ازبکستان له تاجکستان سره خپلې پولې باندې اغزن سیمان غزولي او په ځینو برخو کې یې ماینونه خښ کړي دي. تر اوسه پورې تاجکستان او ازبکستان په خپلو کې ۲۰ سلنه اختلافونه لري. په ۲۰۰۹ زکال کې تاجکستان د پولې د ټاکلو په اړه د ازبکستان وړاندیز رد کړ، له همدې امله د دواړو هېوادونو ترمنځ د پولې ټاکلو په اړه خبرې وځنډېدې. د ۲۰۱۰ زکال په سپټمبر کې په قرغزستان کې د ازبک قوم پروړاندې له تاوتریخوالي وروسته په لسگونه زره ازبک له قرغزستان څخه ازبکستان ته وتښتېدل د دې کار په غبرگون کې ازبکستان له قرغزستان

سره په خپله پوله اغزن سیمان او ماینونه ځای پرځای کړل او د دې ترڅنګ بیشکیک ادعا کړې وه چې له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۱ زکال پورې په سرحدي پولو کې له ۸۰ څخه زیاتې نښتې شوې وې.

د منځنۍ آسیا هېوادونه چې یو له بل سره اختلافونه او سیالي لري له همدې امله د افغانستان جګړې په اړه واحد لید لورې نه لري. ازبکستان د افغانستان په حکومت او په منځنۍ آسیا کې په خپلو ګاونډیو هېوادونو تور پورې کوي چې په سیمه کې د نشه یي توکو په سوداګرۍ کې ښکېل دي ازبکستان په ښکاره توګه په افغانستان کې د سولې په تړاو ځانګړي وړاندیزونه کړي، خو هېڅ یو هېواد له لوري یې ملاتړ نه دی شوی.[11] ویل کېږي چې عشق آباد طالبانو ته پیسې ورکوي چې د افغانستان او ترکمنستان له پولې څخه لرې اوسي، خو سره له دې د سولې له مختلفو پلانونو څخه ملاتړ کوي.[12]

تاجکستان له افغانستان، روسیې او پاکستان سره د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي په څلور اړخیز نوښت کې برخه لري، خو په دې نوښت کې د منځنۍ آسیا پرتهبل هېڅ یو هېواد برخه نه لري. تر ټولو ستره او مهمه ستونزه د روسیې رول او د اوبو ویش پر سر اختلافونه دي. دوشنبې او بیشکیک هڅه کوي چې د شوروي اتحاد څخه پاتې شوي د برېښنا تولید بندونه جوړ کړي. د یادو بندونو جوړول به د دواړو هېوادونو د برېښنا تولیدي ظرفیت لوړ کړي او منځنۍ آسیا کې به د هغوی د مقام او دریځ له پیاوړتیا سره مرسته وکړي. روسیې چمتووالی ښودلی چې له تاجکستان او ازبکستان سره به د بندونو جوړولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي.

روسیه غواړي له تاجکستان او ازبکستان سره د بندونو جووړولو په برخه کې د همکارۍ له لارې له یوه لوري په سیمه کې خپل اهداف ترلاسه کړي او له بل لوري د سیمه ییز نړیوالي لپاره زمینه برابره کړي. په ورته وخت کې روسیه غواړي له تاجکستان او قرغزستان سره پوځي همکاریو ته پراختیا ورکړي او په دې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د احتمالي بې ثباتۍ مخه ونیسي، په سیمه کې خپلې اغېزې ته پراختیا ورکړي او په ازبکستان چې د روسیې له اغېز څخه د لرې کېدو هڅه کوي فشار راوړي، خو ازبکستان بیا د تاجکستان او قرغزستان له لوري د برېښنا د تولید د سترو بندو له جوړولو سره مخالفت کوي ازبک مشران په دې اند دي چې د یادو بندونو جوړول به له یوه لوري په منځنۍ آسیا کې د ازبکستان رول کمزورۍ کړي او له بل لوري به د دغه هېواد د کرنې سکتور ته زیانونه ورسوي.[13]

د تاجکستان مشران هڅه کوي چې د بندونو جوړولو لپاره نړیوالې مرستې ترلاسه کړي، خو تراوسه پورې نړیوالې ټولنې له تاجکستان سره د بندونو جوړولو په برخه کې د پام وړ مرسته نه ده کړې ماسکو غوښتل چې له تاجکستان او قرغزستان سره د بندونو جوړولو په برخه کې همکاري وکړي، خو کله چې د ازبکستان او امریکا ترمنځ اړیکې خرابې شوې او ازبکستان په خان آباد کې د امریکا پوځي اډه وتړله نو ماسکو هم له تاجکستان او قرغزستان سره د بندونو جوړولو په برخه کې له همکارۍ کولو ډډه وکړه.

د ۲۰۰۹ زکال په فبروري کې ماسکو اعلان وکړ چې له قرغزستان سره به د بندونو جوړولو په برخه کې ۲ میلیارده ډالر مرسته وکړي روسان هیله مند وو چې د دې مرستې په مقابل کې به بیشکیک امریکایان اړ کړي چې د مناس له هوایي اډې څخه ووځي. ازبکستان د روسیې پرېکړې سره مخالفت څرګند کړ او هغه یې په کلکه وغندله خو کله چې قرغزستان د مناس هوایي اډې په اړه له امریکا سره نوی هوکړه لیک لاسلیک کړ چې له مخې به یې امریکایي ځواکونه په مناس اډه کې پاتې کېدل نو مسکو د بیشکیک پرېکړې پروړاندې غبرګون وښود لومړی یې له قرغزستان سره د بندونو جوړولو سره خپلې مرستې بندې کړې او بیا یې له سیاسي واک څخه د باقي یوف له لورې څخه ملاتړ وکړ.

د ۲۰۱۲ زکال په جون کې ازبکستان د روسیې په مشرۍ د ډله ییز امنیت سازمان کې خپل غړیتوب وځنډاوه د ازبکستان د دې عمل په مقابل کې د روسیې ولسمشر ولادي میر پوتین بیشکیک او دوشنبې ته د خپلو سفرونو پرمهال یو ځل بیا له تاجکستان او قرغزستان سره د بندونو جوړولو په برخه کې د مرستې او همکارۍ اعلان وکړ په سیمه کې د اغېز ساتلو په موخه د روسیې د هڅو یوه مهمه برخه د منځنۍ آسیا له یو شمېر هېوادونو سره د ماسکو پوځي همکاري او د پوځي اډو شتون دی. د منځنۍ آسیا له یو شمېر هېوادونو سره د روسیې پوځي همکاري د منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ د بې باورۍ د زیاتېدو سبب شوې.

دقرغزستان په کانټ سیمه کې د روسیې پوځي اډه شتون لري. ډېری روسي پوځي چارواکي په قرغزستان کې خپل پوځي شتون په سیمه کې له امریکا سره د توازن رامنځ ته کولو د قرغزستان په سیاسي بدلونو کې د روسیې د اغېزې پراختیا لپاره مهم ګڼي د دې ترڅنګ ماسکو غوښتل چې د قرغزستان په سویل کې د ډله ییز امنیتي سازمان د چټک غبرګون ځواک لپاره یوه نوې پوځي اډه جوړه کړي، خو ازبکستان د ماسکو له پورتنۍ غوښتنې سره مخالفت څرګند کړ.

د قرغزستان ترڅنگ روسیه په تاجکستان کې هم پوځي اډه لري چې په کې په زرگونو روسي سرتيري مېشت دي د ۲۰۱۲ زکال په اکتوبر کې دوشنبې ته د ولسمشر پوتين د سفر پرمهال روسيې او تاجکستان په تاجکستان کې د روسيې پوځي اډې په اړه نوی تړون لاسليک کړ چې له مخې به يې په يادې پوځي اډې کې روسي سرتيري د ۳۰ کلونو لپاره پاتې کېږي تر ۲۰۰۵ زکال پورې روسي ځواکونه د افغانستان او تاجکستان ترمنځ په گډه پوله مېشت وو، خو د دوشنبې په غوښتنه روسي ځواکونه د افغانستان او تاجکستان له گډې پولې بېرته ولاړل.

په ۲۰۱۱ زکال کې ماسکو په تاجکستان فشارونه زيات کړل څو د افغانستان او تاجکستان پر گډه پوله د روسي ځواکونو ځای پرځای کېدو ته اجازه ورکړي. روسانو غوښتل له افغانستان سره پر پوله د ځواکونو ځای پرځای کولو په وسيله تاجکستان او منځنۍ آسيا ته د بې ثباتۍ د پراختيا مخه ونيسي.[14] تاجک چارواکو له روسانو غوښتنه کړې که د بندونو جوړولو او له ازبکستان سره د اوبو پر سر د ستونزې د حل په برخه کې ورسره مرسته وکړي، نو په دې ترڅ کې به دوی روسانو ته له هوايي اډې څخه د گټې اخيستلو اجازه ورکړي.[15]

ازبکستان غوښتل چې د ډله ييز امنيتي سازمان په چوکاټ کې د چټک غبرگون ځواک د جوړېدو مخه ونيسي او کله چې د ډله يز امنيتي سازمان د چټک غبرگون ځواک رامنځ ته شو، نو ازبکستان په کې له گډون څخه ډډه وکړه او بيا يې د ډله ييز امنيتي سازمان کې خپل غړيتوب وځنډاوه له گاونډيو هېوادونو سره د ازبکستان کړکېچنې اړيکې له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته په منځنۍ آسيا کې د امريکا گټې زيانمنولای شي.

ازبکستان غواړي چې د ماسکو په مشرۍ له نوي جوړېدونکي سيمه ييز جوړښت او نظم څخه ځان لرې کړي له همدې امله د منځنۍ آسيا د نورو هېوادونو په پرتله ازبکستان له امريکا سره د پوځي همکاريو د پراختيا غوښتونکی دی.ږ امريکايي چارواکي په تکراري توگه ازبکستان ته سفرونه کوي. امريکايان غواړي چې د مناس اډې بديل پيدا کړي؛ ځکه چې قرغزستان ويلي دي چې د افغانستان له پوځي اډې څخه امريکايي سرتيري وباسي له روسيې او گاونډيو هېوادونو سره د ازبکستان کړکېچنې اړيکې او له ازبکستان سره د امريکا ستراتېژيکه ملگرتيا به امريکا د ازبکستان په اختلافونو کې دخيله کړي. که ازبکستان د زور له لارې له گاونډيو هېوادونو سره د شخړو د حل پرېکړه وکړي، نو په دې ترڅ کې به امريکا له يو سخت حالت سره

مخامخ شي او امریکایان به مجبور وي چې له یوه لوري د سیمه ییز بحران رامنځ ته کېدو مخه ونیسي او له بل لوري له ازبکستان سره خپلې ملګرتیا ته دوام ورکړي.

**ب ـ کورني ګواښونه او ستونزې**

د منځنۍ آسیا ټول هېوادونه په کور دننه له ګڼو ستونزو سره مخامخ دي او له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د منځنۍ آسیا ثبات له جدي ګواښونو سره مخامخ کېدای شي. په منځنۍ آسیا کې احتمالي بې ثباتي په سیمه کې د امریکا ګټې او اهداف زیانمنولای شي. په منځنۍ آسیا کې د ډیموکراتیکو حکومتونو نشتون، پراخ اداري فساد، بده حکومتولي، د نفوسو زیاتوالی د توندلاریتوب د خپرېدو او د بې ثباتۍ رامنځ ته کېدو لپاره زمینه او شرایط برابر کړي دي. د منځنۍ آسیا دولتونه د خپلو خلکو د ستونزو په حل کې پاتې راغلي له همدې امله په منځنۍ آسیا کې په عمومي توګه عامه نارضایتي رامنځ ته شوې.

د افغانستان نشه يي توکي د منځنۍ آسیا له لارې اروپا او روسیې ته قاچاق کېږي. ویل کېږي چې د تاجکستان او قرغزستان حکومتي چارواکي د نشه يي توکو له قاچاق برانو سره همکاري کوي. همدارنګه ترکمنستان په نشه يي توکو اعتیاد او اخته کېدل د یوې ملي فاجعې او بحران په توګه اعلان کړي دي او په افغانستان کې د نشه يي توکو تولید د منځنۍ آسیا دولتونو ستونزې زیاتې کړي دي سختو اقتصادي او ټولنیزو شرایطو او د نشه يي توکو قاچاق ټوله سیمه له جدي ننګونو سره مخ کړې ده. د پیسو نړیوال صندوق د راپور له مخې په قزاقستان کې د سړي سر ناخالص داخلي تولید ۱۳۰۰۰ ډالر او په قرغزستان او تاجکستان کې له ۲۵۰۰ ډالرو څخه لږ دی.[۱۶]

قزاقستان چې د منځنۍ آسیا د نورو هېوادونو په پرتله با ثباته دی په ۲۰۱۲ زکال کې د تیلو کار کوونکو له لوري په کې پراخ لاریونونه ترسره شول په ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰ زکلونو کې په قرغزستان کې د واک لېږد په دغه هېواد کې د نارضایتي او ګډوډۍ د خپرېدو سبب شو قزاقستان او قرغزستان چې سیاسي واک په کې زیات شخصي شوی دی له جدي ننګونو سره مخامخ دي.[۱۷]

په منځنۍ آسیا کې تر اوسه پورې د توندلارو ډلو له لوري د تاوتریخوالي پېښې نه دي رامنځ ته شوي خو له افغانستان او پاکستان سره نږدې والی، د اقتصادي فرصتونو نشتون او په مذهبي مراسمو سخت بندیزونه په منځنۍ آسیا کې د مذهبي مخالفو ډلو رامنځ ته کېدو او فعالیت لپاره زمینه او شرایط برابر کړي دي قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان له جدي ننګونو او ستونزو سره مخامخ دي او د کافي بهرنۍ مرستې د نشتون

په ترڅ کې به په ناکامو دولتونو بدل شي. همدا اوس د بودیجې نشتون په تاجکستان او قزاقستان کې د شوروي له وخت پاتې زېربنایي پروژې له سقوط سره مخامخ کړې دي.

په ورته وخت کې دواړه هېوادونه د ښوونکو، ډاکترانو او نورو مسلکي افرادو له کمښت سره مخامخ دي. له بل لوري پراخ اداري فساد د دې سبب شوی چې د تاجکستان او قرغزستان حکومتونه د خپلو خلکو د ټولنیزو ستونزو په حل کې ناکامه شي په تاجکستان کې د کورنۍ جګړې له پای ته رسېدو وروسته اداري فساد پراختیا پیدا کړې د ولسمشر امام علي رحمن حکومت خپلو سیاسي مخالفینو ته پیسې ورکوي او حکومت خپل عواید د هېواد له حاصلخېزو سیمو څخه ترلاسه کوي. لرې پرتې سیمې د مرکزي حکومت له اداري څخه بهر دي له تاجکستان سره د نړیوالو مرستو زیاته برخه د دغه هېواد چارواکو جیبو ته ځي.[۱۸]

ددې ترڅنګ د تاجکستان یو شمېر اوسېدونکي په تکراري توګه د برښنا له کمښت او ځینې وختونه په ځانګړي توګه په ژمي کې د خوراکي توکو له نشتون سره مخامخ کېږي. تاجکستان په افغانستان کې د تولید شویو تریاکو د قاچاق یوه مهمه لار ګڼل کېږي او د نشه یي توکو له قاچاق څخه ترلاسه شوې پیسې په دغه هېواد کې د اداري فساد مهمه برخه جوړوي. ویل کېږي چې د تاجکستان یو شمېر حکومتي چارواکي د نشه یي توکو په قاچاق کې ښکېل او دخیل دي.[۱۹]

له تاجکستان سره د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي په برخه کې نړیوالې مرستې اغېزمنې نه وې او تاجک چارواکي د نشه یي توکو له یو شمېر قاچاقبرانو سره همکاري او اړیکې لري. په عمومي توګه د تاجکستان اقتصاد خراب دی او د نشه یي توکو کاراوبار د ټولو اقتصادي فعالیتونو له ۳۰ څخه تر ۵۰ سلنې برخه جوړوي. ویل کېږي چې له نشه یي توکو قاچاق څخه ترلاسه کېدونکې پیسو په نشتون کې به د تاجکستان سقوط وکړي.[۲۰]

د نشه یي توکو په قاچاق او نورو جرایمو کې د تاجک چارواکو ښکېلوالی د دې سبب شوی چې نړیواله ټولنه دغه هېواد د اعتباري او اعتمادي شریک په توګه ونه مني په قرغزستان کې کمزور ډیموکراسی په دغه هېواد کې د حکومت په وړتیا او ظرفیتونو منفي اغېز کړې دي. د دې ترڅنګ په قرغزستان کې د سازمان شویو جرایمو په کچه کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی او د غه هېواد حکومتي اداري او بنسټونه د جرایمو د پراختیا مخنیوي کې پاتې راغلي دي. محلي څارونکي او نړیوال څېړونکي په دې اند دي چې د ۲۰۱۰ زکال په مې کې په سویلي قرغزستان کې د تاوتریخوالي په رامنځ ته

کولو کې د نشه يي توکو قاچاقبرانو لاس درلود د یاد تاوتریخوالي په پایله کې باقي یوف له ځواک څخه لرې شو.[21]

د باقي يوف سقوط، د المازبيگ اتمبایوف واک ته رسېدل او په پارلماني ډیموکراسي د قرغزستان بدلېدل په دغه هېواد کې د سازمان شويو جرایمو له کمېدو سره مرسته ونه کړه. په ۲۰۰۵ زکال کې په قرغزستان کې تر انقلاب او بدلون وروسته په دغه هېواد کې دولتي بنسټونه ډېر کمزوري شول او د جرمي ډلو لپاره يې د فعالیت شرایط برابر کړل د ملگرو ملتونو د راپورونو له مخې د تاوتریخوالي رامنځ ته کېدل د امنيتي ادارو د مشرانو لپاره د دې زمینه برابره کړه چې د نشه يي توکو قاچاقبرانو سره همکاري وکړي او له دې لارې عواید ترلاسه کړي.[22]

په قرغزستان کې بغاوتونو او تاوتریخوالي په دغه هېواد کې حکومتولي له ستونزو سره مخ کړه. په ۲۰۰۵ زکلونو کې پراخو لاریونونه دوه ځله د حکومت د رنگېدو سبب شول. په قرغزستان کې قوي سیاسي گوندونه شتون نه لري، خو په دغه هېواد کې عمومي نارضایتي لپاره حل لار پیدا کړي. ملت پالنه او د نفوسو زیاتوالی په سیاست کې د خلکوو د پراخ گډون سبب شوی دی، خو سیاستوال بیا د خپلو گټو خوندي کولو لپاره د عامو خلکو له احساساتو ناوړه استفاده کوي.د ازبکستان په اندیجان کې د تاوتریخوالي له رامنځ ته کېدو او په ازبک چارواکو د امریکا له لوري له نیوکو وروسته ازبکستان د خان آباد له پوځي اډې د امریکایي ځواکونو د وتلو غوښتنه وکړه د اندیجان پېښې امریکایان له سخت حالت سره مخامخ کړل له یوه لوري امریکا د خپلو پوځي اهدافو ترلاسه کولو لپاره خان آباد پوځي اډې ته اړتیا درلوده او له بل لوري بیا امریکایان مجبور وو چې په منځنۍ آسیا کې د اصلاحاتو رامنځ ته کېدو ملاتړ وکړي.

د منځنۍ آسیا مشران د امریکا له لوري له نیوکو سره مخالف دي هغوی په دې اند دي چې له امریکا سره ملگرتیا باید د منځنۍ آسیا د دولتونو امنیت خوندي کړي ددې ترڅنگ د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران اندېښمن دي چې د امریکا له لوري د ډیموکراسی د پراختیا هڅې به سیمه بې ثباته کړي. له گورجستان او اوکراین وروسته په قرغزستان کې بدلون او انقلاب چې درې واړه د پخواني شوروي اتحاد غړي هېوادونه وو د منځنۍ آسیا مشرانو اندېښنې زیاتې کړي دي.

دعرب پسرلي او بدلونو په اړه د امریکا غبرگون د منځنۍ آسیا د دولتي چارواکو اندېښنې لابسې زیاتې کړې. د امریکا له لوري د مصر د واکمن حسني مبارک نه ملاتړ چې د امریکا پخوانی ملگری او متحد گڼل کېده د منځنۍ آسیا دیکتاتور واکمنان له

امریکا سره د ملګرتیا په اړه بد ګمانه کړل. له همدې امله د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران له امریکا سره د همکارۍ په برخه کې له احتیاط څخه کار اخلي او نه غواړي له امریکا سره د همکاریو د زیاتې پراختیا له امله روسان او چینایان خفه کړي.

په ۲۰۰۵ زکال کې ازبکستان په خان آباد کې د امریکایانو پوځي اډه بنده کړه، خو سره له دې امریکا نه شول کولای د ازبکستان په حکومتي چارواکو د اصلاحاتو رامنځ ته کولو په موخه فشار راوړي د خان آباد پوځي اډې څخه د امریکایي سرتېرو له وتلو وروسته هم امریکایان په افغانستان کې د خپلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه د ازبکستان همکارۍ او مرستې ته اړ وو.

د ازبکستان له لوري د خان آباد پوځي اډې له بندولو وروسته امریکا قرغزستان ته د مناس اډې د کرایې اندازه زیاته کړه او ترانسپورتي قراردادونه یې د قرغزستان دولسمشر خپلوانو او دوستانو ته ورکړل په دې توګه امریکایان په هغه پراخ اداري فساد کې ښکېل شول چې د منځنۍ آسیا هېوادونه هم ورسره مخامخ وو. په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د شتون په ترڅ کې امریکایان د منځنۍ آسیا هېوادونو مرستې او همکارۍ ته اړ دي. همدارنګه باید وویل شي امریکایي چارواکي به تر هغو پورې چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې وي د منځنۍ آسیا په حکومتونو له نیوکو څخه ډډه وکړي. امریکا له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو ویستلو او په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت لپاره د منځنۍ آسیا هېوادونو مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري.

**ج ـ توندلاریتوب**

د منځنۍ آسیا ټول هېوادونه توندلارې ډلې خپل ملي او ثبات ته جدي ګواښ ګڼي او د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو په اړه اندېښنې لري هغوی اندېښمن دي چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل به توندلارې ډلې پیاوړې کړي او افغانستان به یو ځل بیا د القاعدې په څېر ډلو د فعالیتونو په مرکز بدل شي. او یادې ډلې به له یوه لوري خپله ایډیالوژي منځنۍ آسیا هېوادونو ته صادره کړی او له بل لوري به د منځنۍ آسیا له مذهبي ډلو لکه د ازبکستان اسلامي تحریک څخه ملاتړ پیل وکړي. ځینو توندلارو ډلو په منځنۍ آسیا کې خپل فعالیتونه پیل کړي دي په ۲۰۱۱ زکال کې د لومړي ځل لپاره قزاقستان کې ځانمرګي بریدونه ترسره شول.

د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران او روسي چارواکي د ځینو ځانګړو اهدافو ترلاسه کولو په موخه د توندلارو د احتمالي ګواښونو په اړه زیاتې اندېښنې څرګندوي. د منځنۍ آسیا هېوادونه د توندلارو ډلو د ګواښونو په اړه د اندېښنو څرګندولو له لارې له

یوه لوري غواړي له امریکا او لوېدیځ څخه مرستې ترلاسه کړي او له بل لوري غواړي په دې توگه خپل داخلي مخالفې ډلې له منځه یوسي. ماسکو غواړي د توندلارو ډلو د گواښونو په اړه د اندېښنو ښودلو له لارې په سیمه کې خپل پوځي او امنیتي رول او اغېز زیات کړي. د افغانستان او تاجکستان پر گډه پوله په تکراري توگه نښتې رامنځ ته کېږي او د منځنۍ آسیا هېوادونه د افغانستان د احتمالي بې ثباتۍ خپل ملي امنیت ته جدي گواښ گڼي په منځنۍ آسیا کې ستره وېره د کورنیو مخالفو سیاسي ډلو په اړه موجوده ده یادې ډلې نه شي کولای په سیاست کې برخه واخلي او یا هم سیاسي واک ترلاسه کړي. له همدې امله وېره دا ده چې کېدای شي یادې ډلې په توندلارو ډلو بدلې شي. د شوروي اتحاد له ړنگېدو وروسته توندلاروو ډلو د منځنۍ آسیا د اوسېدونکو ترمنځ زیات ملاتړ ترلاسه نه شو کړای، خو د ازبکستان اسلامي تحریک او حزب التحریر په ازبکستان، تاجکستان او قرغزستان کې په پټ ډول فعالیتونه ترسره کوي د پراخ اداري فساد شتون، دیکتاور رژیمونه او په افغانستان او پاکستان کې د بې ثباتۍ دوام د منځنۍ آسیا دولتونه له جدي ننگونو او ستونزو سره مخامخ کولای شي.

په تاجکستان کې چې تراوسه پورې د کورنۍ جگړې نښې نښانې پاتې دي د سیاسي مخالفینو او توندلارو ډلو ترمنځ توپیر په پام کې نه نیول کېږي او له دواړو سره یو شان چلند کېږي. په ۲۰۱۰ زکال کې د تاجکستان په سرتېرو په برید کې یو شمېر سرتیري ووژل شول. د دې برید مسؤلیت د ازبکستان اسلامي تحریک پرغاړه واخیست، په همدې مهال د تاجکستان د حکومت مهم مخالف ملا عبدالله هم تاجکستان ته ستون شو، خو نوموړی د ۲۰۱۱ زکال په اپریل کې د تاجکستان امنیتي ځواکونو له لوري ووژل شو.[۲۳]

په دې ورستیو کې په تاجکستان کې ورته بریدونه زیات شوي دي، نوي پاڅونونه د مخالفو سیاسي ډلو د افراطي کېدو سبب شوي دي د تاجکستان ولسمشر هڅه کوي چې خپل رول او اغېز ته پراختیا ورکړي او د خپلو سیاسي مخالفینو د اغېزې د پراختیا مخه ونیسي. له همدې امله د تاجکستان سیاسي مخالفې ډلې د ازبکستان اسلامي تحریک او نورو توندلارو ډلو سره یو ځای کېږي او په دې توگه هڅه کوي چې په سیاست کې دخیل پاتې شي. له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتلو وروسته او د امنیتي تشې رامنځ ته کېدو په ترڅ کې به په تاجکستان کې بې ثباتي پراختیا پیدا کړي او د مخالفو ډلو په فعالیتونو کې به زیاتوالی رامنځ ته شي.[۲۴]

اوسمهال په منځنۍ آسيا کې تونلارې ډلې پراخ ملاتړ نه لري، خو بده حکومتولي کولای شي په منځنۍ آسيا کې د تونلاریتوب له پراختيا سره مرسته وکړي. د ازبکستان اسلامي تحريک د عدالت غوښتلو په موخه رامنځ ته شوی او په انديجان کې اسلامي ډلې د بې عدالتۍ او فقر پر ضد قيام کړی او د انديجان ډلې غوښتل د دولت د ناکاميو په وړاندې او د سياسي او ټولنيزو اصلاحاتو لپاره مذهب د يوې بديلې حل لارې په توګه معرفي کړي. [٢٥]

د ازبکستان د اسلامي تحريک رامنځ ته کېدل، په انديجان کې تاوتريخوالی او په تاجکستان کې کمزوري پاځونونه ټول د هغو ګواښونو بېلګې دي چې منځنۍ آسيا ورسره مخامخ ده. د حکومتونو له لوري د غير رسمي مذهبي ډلو پر وړاندې توند غبرګونددې سبب شوی چې سياست مذهبي او افراطي بڼه خپله کړي. د اسلام پالو زنداني کول په تکراري توګه د تونلاريتوب د پراختيا لپاره لار هواره کړې ده.د منځنۍ آسيا زندانونه د تونلارو د روزلو په مرکزونو بدل شوي او دا هغه څه دي چې په مصر کې کلونه وړاندې پېښ شول د منځنۍ آسيا چارواکي تائيدوي چې د افرادو زنداني کول په منځنۍ آسيا کې د حزب التحرير له فعاليتونو سره مرسته کړې د منځنۍ آسيا دولتونه د حزب التحرير د فعاليتونو په مخنيوي کې چې په پټ ډول يې ترسره کوي پاتې راغلي دي. [٢٦] ددې امکان زيات دی چې په راتلونکي کې به منځنۍ آسيا د هغو زندانيانو په وسيله چې د منځنۍ آسيا د دولتونو له لوري زنداني شوي بې ثباته شي. له همدې امله امريکا غواړي، چې د منځنۍ آسيا له دولتونو سره د ښې حکومتولۍ د پراختيا په برخه کې مرسته وکړي.

### دويم: منځنۍ آسيا او د امريکا ــ روسيې اړيکې

له ٢٠٠١ زکال راهيسې د امريکا او روسيې په اړيکو کې ځينې وختونه همکاري او ځينې وختونه تضاد او اختلاف ليدل کېږي. په افغانستان کې روانه جګړه او په عمومي توګه د تونلاريتوب پروړاندې مبارزه د امريکا او روسيې ترمنځ د همکارۍ لپاره زمينه برابره کړې ده. په ګورجستان د روسيې بريد او په عراق باندې د امريکا بريد د واشنګټن او ماسکو ترمنځ همکاري زيانمنه نه کړه خو سره له دې روسيه او امريکا په منځنۍ آسيا کې يو له بل سره ستراتيژيکې سيالۍ بوخت دي.

له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته به په منځنۍ آسيا کې د امريکا او روسيې سيالي د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکارۍ د پراختيا پروړاندې ستر او اساسي خنډ وي له روسيې سره سيالي په سيمه کې د امريکا ګټو ته زيان رسولای شي، په ډېرو نورو برخو کې د امريکا او روسيې ترمنځ د همکاريو مخه نيسي او روسيه او

چین به وهڅوي چې د امریکا پرضد یو له بل سره مرسته او همکاري وکړي. همدارنګه له روسیې سره د امریکا سیالي به په منځنۍ آسیا کې د امریکا رول کمزوری کړي او امریکایان به د دې فرصت له لاسه ورکړي چې د منځنۍ آسیا دولتونو سره د هغوی د داخلي ستونزو په حل کې مرسته وکړي.

د امریکا اوږدمهالو اهدافو ته له پاملرنې پرته، د منځنۍ آسیا پروړاندې د امریکا مبهمه پالیسي په ځانګړي ډول په سیمه کې د پوځي اډو جوړولو پالیسي به د امریکا او روسیې ترمنځ همکاري ته د پام وړ زیان ورسوي. د ۲۰۰۱ زکال د سپتمبر ۱۱مې له بریدونو وروسته امریکا د روسیې د ولسمشر ولادیمیر پوتین په مرسته او همکارۍ په منځنۍ آسیا کې پوځي اډې جوړې کړې او خپل پوځونه یې په یادو اډو کې ځای پرځای کړل. ولادي میر پوتین په سیمه کې د توندلارو ډلو د رول او اغېزې د پراختیا په اړه اندېښمن و. له همدې امله نوموړي غوښتل په افغانستان کې له امریکا سره د همکارۍ له لارې روسیه د یو ستر سیمه ییز قدرت او د امریکا د شریک په توګه راڅرګنده شي.

د روسیې پوځي مشران د افغانستان په تړاو له امریکا سره د مرستې او همکارۍ له کولو سره مخالف وو، خو سره له دې پوتین د واشنګټن له هغې پرېکړې سره موافقه وکړه چې له مخې به یې امریکایي ځواکونه په ازبکستان او قرغزستان کې ځای پرځای کېدل. همدارنګه پوتین له امریکایانو سره د استخباراتي معلوماتو د شریکولو وړاندیز کړی و او د شمال له لارې یې امریکایي ځواکونو ته د اړتیا وړ توکو د لېږد په برخه کې مرسته او همکاري کړې وه. اوسمهال په روسیه کې په منځنۍ آسیا کې د امریکا د شتون په اړه دوه ډوله لید لوري شتون لري. له یوه لوري روسان امریکا او ناټو ته د توندلاریتوب پرضد جګړه کې د خپلو متحدینو په سترګه ګوري او له بل لوري اندېښنه لري چې په سیمه کې د امریکا شتون به په سیمه کې د ځواک توازن بدل کړي او د منځنۍ آسیا هېوادونو کې به د روسیې رول او اغېز کمزوری کړي، په دې وروستیو کلونو کې د روسیې په دریځ کې بدلون رامنځ ته شوی د روسیې اوسنی رسمي دریځ دا دی چې په افغانستان کې د ثبات له ټینګښت وروسته باید امریکایي ځواکونه له منځنۍ آسیا څخه ووځي.

د منځنۍ آسیا دولتونو په څېر روسیه هم له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د مبهم وضعیت په اړه اندېښمنه ده. د روسانو مهمه اندېښنه داده چې د افغانستان اوسنی حکومت به له بهرني پوځي ملاتړ پرته دوام ونه شي کړای. که امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي نو روسان په دې اند او باور دي چې په دې ترڅ کې په منځنۍ آسیا کې د امریکایي ځواکونو د پوځي شتون لپاره کوم دلیل نه

پاتې کېږي روسان اندېښمن دي چې په منځنۍ آسيا کې د امريکا پوځي شتون به له يوه لوري د منځنۍ آسيا هېوادونو دننه د بې ثباتي سبب شي او له بل لوري به د روسيې ګټې له جدي ګواښونو سره مخامخ کړي.

**الف ـ د منځنۍ آسيا پروړاندې د روسيې بهرنۍ تګلاره**

روسيه د منځنۍ آسيا پروړاندې مبهمه پاليسي تعقيبوي د منځنۍ آسيا پروړاندې د روسيې د بهرنۍ پاليسۍ مهم هدف په منځنۍ آسيا کې د بې ثباتۍ د خپرېدو مخنيوی دی. روسان اندېښمن دي چې د منځنۍ آسيا بې ثباتي د روسيې ثبات له ګواښ سره مخامخ کړي او په ځانګړې توګه روسي مسلمانان چې شمېر يې د ۸ او ۱۵ ميليونو ترمنځ دی اغېزمن کړي. د دې ترڅنګ روسان غواړي چې په منځنۍ آسيا کې د نشه يي توکوو د قاچاق او د بهرنيو سترو قدرتونو د پوځي او سياسي اغېزې د خپرېدو مخه ونيسي. اوسمهال په منځنۍ آسيا کې بدليدونکي وضعيت، له امريکا سره د منځنۍ آسيا دولتونو مبهمې او ناڅرګندې اړيکې، په منځنۍ آسيا کې د چين د اقتصادي اغېز پراختيا او د منځنۍ آسيا دولتونو له لوري د متضادو بهرنيو تګلارو تعقيب د منځنۍ آسيا پروړاندې د روسيې بهرنۍ پاليسي له ستونز او ننګونو سره مخ کړې ده.

تر اوږدې مودې پورې د مرکزي هېوادونو پروړاندې ماسکو ځانګړې پاليسي تعقيبوله او روسانو هڅه کوله چې له منځنۍ آسيا هېوادونو سره په اړيکو کې خپلې ګټې خوندي وساتي، خو اوسمهال د منځنۍ آسيا پروړاندې د روسيې په بهرنۍ تګلاره کې بدلون رامنځ ته شوی دی. د اوسنۍ پاليسۍ له مخې روسيه غواړي د منځنۍ آسيا له هر هېواد سره په جلا جلا ډول همکاريو ته پراختيا ورکړي او په دې توګه خپل اهداف ترلاسه کړي.

د منځنۍ آسيا پروړاندې د روسيې د نوې تګلارې هدف له يوه لوري د سيمه ييزې همکارۍ ته د پراختيا ورکولو له لارې د احتمالي سيمه ييزې بې ثباتۍ مخنيوی کول او له بل لوري په سيمه کې د روسيې اغېزې او رول د پراختيا ورکولو له لارې د اوږدمهاله اهدافو ترلاسه کول دي.[۲۷]

له قزاقستان سره سياسي او اقتصادي اړيکو او همکاريو ته پراختيا ورکول او په قرغزستان او تاجکستان کې د اغېزې او رول پراختيا د منځنۍ آسيا پروړاندې د روسيې د نوې پاليسۍ مهمه او اساسي برخه جوړوي. ترکمنستان چې باثباته دی او بې طرفه بهرنۍ تګلار تعقيبوي له همدې امله روسان ورته زياته پاملرنه نه کوي او په اړه يې اندېښمن هم نه دي، خو روسان د ازبکستان په اړه چې د سيمه ييزې رهبرۍ لپاره هڅې کوي او غواړي له امريکا سره اړيکو ته پراختيا ورکړي اندېښمن دي.[۲۸]

روسان هڅه کوي چې په سیمه کې خپل اهداف په سیمه کې موجودو واقعیتونو ته په پام سره وټاکي په سیمه کې د روسیې د اهدافو پروړاندې خنډونه شتون لري د روسانو لپاره مهمه داده چې څرنگه کولای شي خپل سیمه ییز اهداف ترلاسه کړي او په سیمه کې خپلو اغېزو ته پراختیا ورکړي. د روسیې پالیسي جوړونکو لپاره اساسي ستونزه دا ده چې د منځنۍ آسیا هېوادونه په سیمه کې د روسیې د اهدافو او فعالیتونو په اړه شکمن دي. یو شمېر سیمه ییز سازمانونه او بنسټونه د سیمه ییزې همکارۍ پراختیا په موخه د روسیې د ستراتیژۍ اساس او بنسټ جوړوي. گډ امنیتي سازمان، د آسیا او اروپا اقتصادي او گمرکي ټولنه او د آسیا او اروپا اتحادیه خو په لوېدیځ کې د همکارۍ په دې ډول پروژو زیاتې نیوکې کېږي او داسې انگېرل کېږي چې د یادو پروژو هدف بېرته د پخواني شوروي اتحاد وخت او شرایطو ته ستنېدل دي.

روسیه ډېر مبهم اهداف تعقیبوي روسان په دې اند دي چې د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا په وسیله به د شوروي اتحاد د وخت اقتصادي اړیکې بیا رامنځ ته شي او په دې توگه به روسي توکو ته ښه مارکیټونه پیدا شي. د سیمه ییزې همکارۍ له پراختیا پرته به روسي توکي د چینایي توکو پروړاندې په مارکیټونو کې خپل ارزښت له لاسه ورکړي د ټولنیز امنیتي سازمان په وسیله د امنیتي ـ سیاسي همکاریو له لارې ماسکو ته د دې زمینه برابرېږي چې له یوه لوري په منځنۍ آسیا کې په مستقیمه توگه مداخله وکړي او له بل لوري په سیمه کې د امریکا او ناټو د پوځي شتون مخه ونیسي. له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره سم به روسیه د منځنۍ آسیا دولتونو د پولو د امنیت خوندیتوب په برخه خپلو همکاریو ته پراختیا ورکړي.

روسیې په ۲۰۱۲ ز. کال کې له قرغزستان سره د ۱،۱ میلیارد او له تاجکستان سره د ۲۰۰ میلیونو ډالرو تړونونه لاسلیک کړل، چې هدف یې د یادو هېوادونو د پوځونو عصري کول او د سیمه ییزې همکارۍ په پورتنیو پروژو کې د روسیې مهم ملگری او متحد قزاقستان دی. د شوروي اتحاد له وخت څخه پاتې سیاسي او اقتصادي همکاریو ته پراختیا ورکړي او د دغه هېواد مشران په دې باور دي د شوروي اتحاد د وخت اقتصادي شبکې باید بیا فعاله کړي او په دې توگه په سیمه ییز اقتصاد کې قوي او پیاوړی رول پیدا کړي، د قزاقستان مشران ماسکو ته ډاډ ورکړی دی چې د روسیې ضد پلانونو او تگلارو سره زیاته علاقه مندي نه لري. تاجکستان او قرغزستان چې له چین سره یې اقتصادي اړیکې د پراختیا په حال کې دي، خو سره له دې تر اوسه پورې د روسیې تر اغېزې لاندې دي. ازبکستان په سیمه کې د خپل رول پراختیا لپاره هڅې

کوي، خو په خپلو کورنیو چارو کې د روسیې د احتمالي مداخلې په اړه اندېښنې لري او د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه د روسیې هڅو ته د شک په سترګو ګوري.

له همدې امله ازبکستان د ټولنیز امنیتي سیمه ییز سازمان په چوکاټ کې د چټک غبرګون ځواک له جوړېدو سره مخالفت کړی دی. د ازبکستان حکومتي مشران په دې اند دي چې د چټک غبرګون ځواک جوړېدل به په منځنۍ آسیا کې د روسیې د پوځي شتون له پراختیا سره مرسته وکړي او روسانو ته به د دې فرصت برابر کړي چې د مرکزي آسیا هېوادونو په چارو کې پوځي مداخله وکړي.

د ۲۰۱۱ زکال په ډسمبر کې د ټولنیز امنیتي همکاریو سازمان په غونډه کې د ازبکستان ولسمشر اسلام کریموف هغه هوکړه لیک رد کړ چې له مخې به یې د سازمان په هر غړي هېواد کې د بهرنیو ځواکونو د ځای پرځای کولو په موخه د سازمان د ټولو غړو هېوادونو موافقه اخیستل کېده او په دې توګه روسانو ته د دې زمینه برابرېده چې د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې د امریکایي ځواکونو له ځای پرځای کېدو سره مخالفت وکړي.

د ۲۰۱۲ زکال په جون کې ازبکستان په ټولنیز امنیتي سازمان کې خپل غړیتوب وځنډاوه د ازبکستان دې پرېکړې روسان اندېښمن کړي وو او ډېری روسي څېړونکي په دې باور وو چې تاشکند غواړي له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته امریکایي سرتیري په ازبکستان کې خپل پوځي شتون ته دوام ورکړي د روسانو اندېښنې پرځای وې ټولنیز امنیتي سازمان کې د ازبکستان له لوري د غړیتوب له ځنډېدو وروسته د امریکا متحدو ایالتونو له ازبکستان سره په خپلو مالي مرستو کې زیاتوالی رامنځ ته کړ.[۲۹]

څنګه چې وړاندې ورته اشاره وشوه د منځنۍ آسیا دولتونه د روسیې د همکاریو پروژو په اړه شکونه لري او په دې اړه په منځنۍ آسیا کې واحد لید لوری شتون نه لري ازبکستان د روسیې په مشرۍ د ټولو سازمانونو او بنسټونو په اړه شکونه لري. په ټولنیز امنیتي سازمان کې د غړیتوب ځنډولو ترڅنګ ازبکستان د یورو ـ آسیا په اقتصادي ټولنه کې هم غړیتوب وځنډاو او اعلان یې وکړ چې دغه هېواد به د یورو ــ آسیا اتحادیې غړیتوب هم ترلاسه نه کړي.

ترکمنستان چې بې طرفه بهرنی سیاست تعقیبوي تل یې هڅه کړې چې د امکان تر بریده له پورتنیو سازمانونو څخه ځان لرې وساتي. له ترکمنستان او ازبکستان پرته د منځنۍ آسیا نور هېوادونه په ټولنیز امنیتي سازمان کې غړیتوب له روسیې سره د ښو اړیکو لرلو او له روسیې څخه د پوځي وسایلو ترلاسه کولو لپاره مهم ګڼي. روسان د

پخواني شوروي اتحاد په غړو هېوادونو کې د یو مهم رول ترسه کولو په تړاو د خپلو وړتیاوو او امکاناتو په اړه شکونه لري.

په ۲۰۱۰ زکال کې په قرغزستان کې تاوتریخوالی او ګډوډي رامنځ ته شوه او بشیکیک له ماسکو او د جمعي امنیتي سازمان څخه د مرستې غوښتنه وکړه خو ماسکو او د جمعي امنیتي سازمان غړو هېوادونو له قرغزستان سره هېڅ ډول مرسته ونه شوه کولای خو سره له دې روسي چارواکي ټینګار کوي چې په افغانستان کې د جګړې له پای ته رسېدو وروسته به د سیمه ییز امنیت په ټینګښت کې د جمعي امنیت سازمان رول او اغېز پراختیا پیدا کړي. ماسکو د جمعي امنیت سازمان له غړو څخه غوښتنه کړې چې د سازمان وړتیاوې په ځانګړي توګه د پولو امنیت ساتلو او د چټک غبرګون ځواک د پیاوړي کولو په برخو کې د سازمان وړتیاوې زیاتې کړي، خو په ورته وخت کې یو شمېر څېړونکي په دې اند دي چې ماسکو د منځنۍ آسیا په چارو کې له مداخلې سره علاقه مندي نه لري؛ د دې ترڅنګ د جمعي امنیت سازمان یو شمېر غړي د بېلګې په توګه ارمنستان نه غواړي چې منځنۍ آسیا ته خپل سرتیري واستوي.

روسان اندېښمن دي چې امریکایان به د جمعي امنیت سازمان د اغېزمنتوب مخه ونیسي او د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران به وهڅوي څو د یاد سازمان په اغېزمنتوب باور ونه کړي او د بدیلو سازمانو د غړیتوب هڅه وکړي د امریکا متحد ایالتونه د روسیې په مشرۍ د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا له پروژو سره مخالفت کوي. امریکایان هڅه کوي چې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره په مستقیمه او یا د سیمه ییزو بنسټونو او شبکو له لارې اړیکې وساتي امریکا غواړي چې د منځنۍ آسیا هېوادونه له بېلابېلو سازمانو سره اړیکې ولري او له روسیې سره د منځنۍ آسیا هېوادونو اړیکې باید له نورو قدرتونو سره د منځنۍ آسیا هېوادونو د سیاسي او اقتصادي اړیکو پروړاندې خنډ ونه ګرځي.[30]

امریکایان د جمعي امنیت سازمان په ظرفیت، وړتیا او اغېزمنتیا شکمن دي او هغه په سیمه کې د روسي د جیوپولټیکو اهدافو ترلاسه کولو لپاره یوه وسیله ګڼي روسیې په تکراري توګه له ناټو سازمان څخه غوښتنه کړې چې د جمعي امنیت سازمان سره اړیکې رامنځ ته کړي له یوه لوري ماسکو د دې وړتیا او امکانات نه لري چې په وسیله یې په سیمه کې سوله او ثبات ټینګ کړي او له بل لوري د منځنۍ آسیا هېوادونه نه غواړي چې د روسیې تر زیاتې اغېزې لاندې ووسي له همدې امله امریکایان نه غواړي له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته هم په سیمې کې د امنیت او ثبات د ټینګښت مسؤلیت یوازې او یوازې ماسکو ته وسپاري خو روسیه هڅه کوي چې له

افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د منځنۍ آسیا هېوادونو د امنیت او ثبات ټینګښت لپاره چمتووالی ونیسي.

**ب ـ د منځنۍ آسیا پروړاندې د امریکا ستراتېژي او د امریکا ـ روسیې اړیکې**

د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا پوځي همکاري او په منځنۍ آسیا کې د امریکا د پوځي اډو شتون د امریکا او روسیې ترمنځ د اړیکو پراختیا پروړاندې ستر خنډ ګڼل کېږي. امریکایانو په تکراري توګه ویلي دي چې په سیمه کې د دوی پوځي شتون موقتي دی او په افغانستان کې د جګړې په موخه دوی په سیمه کې پوځي اډې جوړې کړې دي، خو روسي چارواکي او څېړونکي په سیمه کې د امریکا د پوځي شتون په اړه اندېښني لري د روسانو اساسي اندېښنه دا ده چې ګواکې امریکا د افغانستان د جګړې په نوم په سیمه کې د خپل پوځي شتون په وسیله هڅه کوي چې د شوروي اتحاد په پخواني جمهوریتونو او منځنۍ آسیا کې د روسیې د رول او اغېزې د پراختیا مخه ونیسي. د دې ترڅنګ روسان ویره لري چې په سیمه کې د امریکا شتون به د منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ د سیالیو د پراختیا سبب شي امریکایان ازبکستان ته په منځنۍ آسیا کې د خپل ملګري او متحد په توګه زیات ارزښت ورکوي.

په عمومي توګه د امریکا او روسیې ترمنځ د اړیکو څرنګوالی په سیمه کې د امریکا له پوځي شتون سره مستقیم تړاو لري. له ۲۰۰۱ زکال څخه تر ۲۰۰۹ زکال پورې د امریکا او روسیې ترمنځ د سیمې په اړه همکاري موجوده وه او روسیې په سیمه کې د امریکا له پوځي شتون سره توافق کړی و خو په ۲۰۰۸ ز. کال کې پر ګورجستان د روسیې له برید وروسته د امریکا او روسیې اړیکې خرابې شوې او په دې توګه په سیمه کې د امریکا د پوځي شتون په اړه د روسانو لید لوری بدل شو. له ۲۰۰۹ زکال راهیسې روسانو په تکراري توګه په امریکا فشار راوړی دی چې له سیمې خپل سرتیري وباسي د دې ترڅنګ روسان هڅه کوي چې په سیمه کې خپل پوځي شتون ته پراختیا ورکړي.

د پوځي اډو د شتون پر سر د امریکا او روسیې سیالي د دې سبب شوې چې د منځنۍ آسیا هېوادونه له ماسکو او واشنګټن دواړو څخه امتیازات ترلاسه کړي. د امریکا او روسیې ترمنځ سیالي له یوه لوري د سیمې هېوادونو ترمنځ او له بل لوري د ماسکو او واشنګټن ترمنځ د بې اعتمادي او بې باوري د زیاتېدو سبب شوې. د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا له لوري پراخې پوځي مرستې به د دې سبب شي، ترڅو د منځنۍ آسیا هېوادونه له یوه لوري په خپلو منځونو کې سیالۍ زیاتې کړي او له بل لوري د منځنۍ آسیا هېوادونه له روسیې څخه لرې کېدو او د روسیې د اغېزې کمېدو ته وهڅوي. له همدې امله یو شمېر

امریکايي څېړونکي په دې اند دي چې د منځنی آسیا دولتونو سره د امریکا له لوري پراخې مالي مرستې به په سیمه کې د واشنګټن ګټې زیانمنې کړي او په دې توګه به امریکا په مستقیم ډول د منځنی آسیا دولتونو ترمنځ په شخړو کې ښکېله شي.

د ۲۰۰۹ زکال په فبروري کې د قرغزستان ولسمشر باقي یوف اعلان وکړ چې امریکا باید په ٦ میاشتو کې له مناس اډې څخه ووځي قرغزستان ته د روسیې د ولسمشر ډیمتري میډویدف له سفر یوه ورځ وروسته ولسمشر باقي یوف له امریکا څخه غوښتنه وکړه چې له مناس اډې څخه دې خپل ځواکونه وباسي. قرغزستان ته د سفر پرمهال د روسیې ولسمشر له دغه هېواد سره دوه میلیاردو ډالرو مرسته او پور اعلان کړی و خو کله د قرغزستان مشران په دې پوه شول چې روسیه د نړیوال اقتصادي بحران له امله له اقتصادي ستونزو سره مخامخ ده او نه شي کولای له دغه هېواد سره مالي مرستې وکړي له همدې امله قرغز مشرانو له امریکا سره د مناس اډې د تمدید په اړه خبرې پیل کړې.

د خبرو په پایله کې دواړو لورو د مناس اډې د تمدید په اړه توافق وکړ د دې توافق له مخې به امریکا هر کال د مناس اډې په مقابل کې قرغزستان ته ٦۰ میلیونه ډالر ورکول. د دې ترڅنګ امریکا له قرغزستان سره ۱۷۰ میلیون ډالره مرسته اعلان کړه.[۳۱] امریکا سره د مناس اډې په اړه د نوي هوکړه لیک له لاسلیک وروسته د قرغزستان ولسمشر باقي یوف د ۲۰۰۹ په اګست کې له روسانو سره یو تړون لاسلیک کړ چې له مخې به یې روسیې په قرغزستان کې خپله دویمه پوځي اډه جوړوله خو ازبکستان په قرغزستان کې د روسیې د نوې پوځي اډې د جوړېدو له پرېکړې سره په کلکه مخالفت وکړ. له روسانو سره د پوځي اډې په اړه له هوکړې لږه موده وروسته د قرغزستان مشرانو په خپله خاوره کې امریکا ته د دویمې پوځي اډې ورکولو په موخه له امریکايي چارواکو سره خبرې پیل کړې امریکا سره د پوځي اډو په اړه د قرغزستان د ولسمشر د خبرو په تړاو روسانو په ښکاره توګه کوم غبرګون ونه ښود؛ خو روسانو په قرغزستان کې د امریکا د پوځي شتون په اړه اندېښنې درلودې او په پټه یې د قرغزستان په ولسمشر تور پورې کاوه چې دوه ګونی سیاست تعقیبوي. له همدې امله د ۲۰۱۰ زکال په فبروري کې له سیاسي واک او قدرت څخه د باقي یوف په لرې کولو کې روسانو فعال رول ترسره کړ.

په افغانستان کې د جګړې دوام، په منځنۍ آسیا کې د امریکا پوځي شتون او د سیمې په تړاو د امریکا مبهمه تګلاره د روسیې او امریکا ترمنځ د دایمي همکاریو پروړاندې خنډ ګڼل کېږي. امریکايي چارواکو د منځنی آسیا هېوادونو له مشرانو سره د پوځي همکاریو په اړه خبرې پیل کړې دي. امریکایان غواړي له افغانستان څخه د

خپلو ځواکونو له ویستلو وروسته په منځنۍ آسیا کې پوځي اډې او د منځنۍ آسیا هېوادونو سره پوځي همکاري ولري. د پوځي همکاریو د څرنګوالي په اړه د امریکا او ازبکستان ترمنځ په خبرو کې پرمختګ شوی دی ازبکستان د روسیې فشارونو ته زیاته پاملرنه نه کوي. لوړپوړو امریکایي چارواکو په ښکاره توګه نه دي ویلي چې په سیمه کې یې د پوځي شتون هدف څه دی؟ او په سیمه کې مېشت امریکایي ځواکونه به څه ډول رول ترسره کوي؟[۳۲]

د امریکا مبهم او ناڅرګند سیاستونه د ماسکو او واشنګټن ترمنځ د کړکېچ او بې باوري اساس جوړوي یو شمېر څېړونکي په دې باور دي چې امریکا غواړي منځنۍ آسیا د روسیې او امریکا ترمنځ د سیالۍ په میدان بدله کړي. روسان په سیمه کې د امریکا د پوځي شتون په اړه اندېښنې لري روسي چارواکي په دې اند دي چې امریکا غواړي افغانستان یوازې پرېږدي او د پخواني شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې د روسیې اغېز محدود کړي. له همدې امله له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته روسان په سیمه کې د امریکا پوځي شتون سره مخالفت کوي. د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې د امریکا هر ډول پوځي شتون په یادو هېوادونو کې د بحران رامنځ ته کېدو په ترڅ کې د روسیې د هر ډول احتمالي مداخلې مخه نیسي.

ددې ترڅنګ روسیه د امریکا له لوري د منځنۍ آسیا هېوادونو ته د پوځي وسایلو او مرستو ورکولو سره مخالفت کوي. روسان په دې اند دي چې پرمختللو وسلو ته د منځنۍ آسیا دولتونو لاسرسی به له یوه لوري د منځنۍ آسیا دولتونه وهڅوي چې خپل اختلافونه او ستونزې د زور له لارې حل کړي او له بل لوري به مرکزي هېوادونو ته ددې زمینه برابره کړي چې د روسیې د فشارونو او مداخلې پر وړاندې مقاومت وکړي همدارنګه پوځي مرستې به د امریکا او روسیې ترمنځ د سیالۍ د پراختیا سبب شي او د منځنۍ آسیا دولتونه به ماسکو او واشنګټن د یو بل پرضد وکاروي. د دې ترڅنګ د منځنۍ آسیا هېوادونو سره پوځي مرستې به د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا مخه ونیسي او سیمه ییز سازمانونه به کمزوري کړي، خو په دې وروستیو کې د ازبکستان او قرغزستان له لوري د ملي امنیت نوې ستراتیژي به په سیمه کې د سترو قدرتونو پوځي شتون لږ کړي.

د ازبکستان د ملي امنیت په ستراتیژۍ کې په ښکاره توګه ویل شوي دي چې دغه هېواد به د هېڅ یو پوځي بلاک غړیتوب ترلاسه نه کړي او نه به په خپله خاوره کې د کوم بهرني هېواد پوځي اډې جوړولو ته اجازه ورکړي او د قرغزستان د ملي امنیت په ستراتیژي کې ویل شوي و چې د بهرنیو ځواکونو ته د ځای ورکولو په اړه باید د جمعي

امنیت سازمان د ټولو غړو توافق ترلاسه شي،[۳۳] خو دمنځنۍ آسیا بدلېدونکې سیاست ته په پام سره په پورتنیو ژمنو او اسنادو زیات باور او اعتماد کول ستونزمن ښکاري په منځنۍ آسیا کې د امریکا پوځي شتون پروړاندې د روسیې د بهرنۍ تګلارې په ټاکلو کې د ایران سیاستونه هم د پام وړ اغېز لري روسي چارواکي اندېښنه لري چې د امریکا او ایران ترمنځ د احتمالي بحران په صورت کې به امریکایان په منځنۍ آسیا کې له خپلو مېشتو سرتېرو څخه د ایران پر ضد استفاده وکړي. ډېری سیمه ییز څېړونکي په دې اند دي چې د امریکا او ایران ترمنځ خرابې اړیکې د ازبکستان او امریکا ترمنځ د اړیکو د پراختیا سبب شوې دي.

روسان اندېښنه لري چې په منځنۍ آسیا کې د ایران پولو ته نږدې د امریکا پوځي شتون به د امریکا او ایران ترمنځ د کړکېچ رامنځ ته کېدو سبب شي. د دې ترڅنګ د امریکا د هر ډول برید په مقابل کې به ایران غبرګون څرګند کړي او په منځنۍ آسیا کې به له توندلارو ډلو ملاتړ پیل کړي او په دې توګه به ټوله سیمه لا زیاته بې ثباته شي. له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو وتل، په سیمه کې مبهم سیاسي حالات او بې ثباتي، په منځنۍ آسیا کې د امریکا پوځي شتون او د ایران اټومي پروګرام کولای شي په راتلونکي د ایران او امریکا ترمنځ د اړیکو خرابېدو او د سیمې د لازیاتې بې ثباتۍ سبب شي.

## درېیم: د منځنۍ آسیا پروړاندې د امریکا بدلېدونکې ستراتیژي

په ۲۰۰۱ زکال کې په امریکا د سپټمبر ۱۱مې له بریدونو وروسته بیا تر ننه پورې امریکا د منځنۍ آسیا پروړاندې ثابته بهرنۍ ستراتیژي نه لري بلکې د سیمې او نړۍ سیاسي حالاتو بدلېدو سره د امریکا بهرنۍ ستراتیژي هم د بدلېدو په حال کې وه. امریکا د منځنۍ آسیا پروړاندې په خپلې ستراتیژۍ کې یو شمېر ځانګړي اهداف تعقیبوي په افغانستان او سیمه کې د ثبات ټینګښت، د منځنۍ آسیا طبیعي زیرمو ته خوندي لاس رسی پیدا کول، په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د ایران، روسیې او چین د اغېزې د پراختیا او خپل رول او اغېزې ته پراختیا ورکول په سیمه کې د امریکا مهمې او ستراتیژیکې ګټې او اهداف ګڼل کېږي.

امریکایي چارواکي په منځنۍ آسیا کې د خپلو اهدافو ترلاسه کولو او د خپلې ستراتیژۍ د بریا لپاره هڅې کوي ډېری څېړونکي په دې باور دي چې امریکایي چارواکي به د ستراتیژۍ د بریا لپاره د سیمې هېوادونو سره اوږدمهاله ژمنتیا، له روسیې سره د همکاریو پراختیا، په افغانستان کې د ناکامۍ مخنیوی، په منځنۍ آسیا کې ښې حکومتولۍ ته پراختیا ورکول او په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د خپلو ځواکونو د

شمېر کمول په پام کې ونیسي. له همدې امله ویل کېږي چې د منځنی آسیا پروړاندې د امریکا ستراتیژي به بدلېدونکی حالت ولري او د سیمې هېوادونو سره د امریکا اوږدمهاله ژمنتیا، له روسیې سره د همکاریو پراختیا، په افغانستان کې د ناکامی مخنیوی، په منځنی آسیا کې ښې حکومتولی ته پراختیا ورکول او په افغانستان کې د ځواکونو کمول به د منځنی آسیا پروړاندې د امریکا په ستراتیژی کې مهم ځای ولري.

**الف ـ د امریکا اوږدمهاله ژمنتیا**

په افغانستان کې جګړه د دې سبب شوه څو د منځنی آسیا هېوادونو او امریکا ترمنځ اړیکې او همکاري پراختیا پیدا کړي خو په افغانستان کې د جګړې له پای ته رسېدو او له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به منځنی آسیا د امریکا لپاره خپل ارزښت له لاسه ورکړي او د امریکا او منځنی آسیا هېوادونو ترمنځ به همکاري او اړیکې کمزورې شي د سیمې دولتونه له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته حالاتو په اړه اندېښنې لري.

امریکا د منځنی آسیا په پرتله په منځني ختیځ کې ستراتیژیکې او اږد مهاله ګټې لري له همدې امله له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به منځنی آسیا ته د امریکا پاملرنه کمه شي. یو شمېر امریکایي څېړونکي په دې اند دي چې امریکا باید د منځنی آسیا دولتونو د اوږدمهاله همکاری په اړه ډاډ ورکړي او هغوی ته په ډاګه کړي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به هم د منځنی آسیا هېوادونو سره د امریکا همکاري دوام پیدا کړي.

په نړیواله کچه د امریکا لومړیتوبونه او ګټې د بدلون په حال کې دي خو سره له دې امریکایان به په منځنی آسیا د خپلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه د منځنی آسیا دولتونو سره اړیکو ته دوام ورکړي. امریکا غواړي په منځنی آسیا د ناکامو دولتونو رامنځ ته کېدو مخه ونیسي په منځنی آسیا کې د ناکامو دولتونو رامنځ ته کېدل به مرکزي آسیا د توندلارو ډلو په خوندي پټنځای بدله کړي.

ددې ترڅنګ امریکا هڅه کوي له یوه لوري په منځنی آسیا کې د دولتونو ترمنځ د کړکېچ رامنځ ته کېدو مخه ونیسي او له بل لوري د سازمان شویو جرایمو او د نشه یي توکو د قاچاق پروړاندې د منځنی آسیا دولتونو وړتیا او ظرفیتونه لوړ کړي د منځنی آسیا هېوادونو سره د امریکا اړیکې او همکاري په افغانستان او پاکستان کې چې د توندلارو ډلو له ګواښونو او بې ثباتی سره مخامخ دي د امریکا د رول او اغېزې له پراختیا سره مرسته کولای شي امریکا یو سیمه ییز ستر قدرت نه دی له همدې امله د

منځنۍ آسیا هېوادونه امریکا د ځان لپاره کوم جدي ګواښ نه ګڼي له همدې امله د منځنۍ آسیا هېوادونه د امریکا د شتون او رول هرکلی کوي.

امریکا یي څېړونکي په دې باور دي چې امریکا باید له یوه لوري د منځنۍ آسیا هېوادونو ته ډاډ ورکړي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا همکاري دوام پیدا کړي او له بل لوري باید د سیاسي او اقتصادي اصلاحاتو رامنځ ته کولو په موخه د منځنۍ آسیا په هېوادونو فشارونه زیات کړي له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته په منځنۍ آسیا کې د امریکا د پاتې کېدو په تړاو د منځنۍ آسیا دولتونو او سیمه ییزو قدرتونو ته قناعت ورکول به ډېر ستونزمن وي. له بل لوري امریکا هڅه کوي چې خپل پوځي لګښتونه راکم کړي په ۲۰۰۲ زکال کې امریکا منځنۍ آسیا ته ۳۲۸ میلیونه ډالر او په ۲۰۱۳ زکال کې ۹۶ میلیونه ډالر ځانګړي کړي وو.

امریکایي څېړونکي په دې ټینګار کوي چې امریکا باید په سیمه کې د پاتې کېدو په اړه د تشو خبرو پرځای د سیمې له هېوادونو سره د راتلونکو اړیکو او همکاریو په اړه یوه څرګنده اجنډا او برنامه ولري. د دې ترڅنګ امریکا باید د خپلو راتلونکو برنامو لپاره په کافي اندازه بودیجه ځانګړې کړي همدارنګه امریکا غواړي چې له قرغزستان پرته د نړیوالې سوداګرۍ سازمان سره د منځنۍ آسیا څلورو نورو دولتونو یوځای کولو، د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي په موخه د یو اغېزمن میکانیزم رامنځ ته کولو او سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ ته پراختیا ورکولو ته د منځنۍ آسیا پروړاندې په خپلې نوې ستراتیژۍ کې ځای ورکړي. امریکا هڅه کوي چې د منځنۍ آسیا هېوادونه د آسیا زړه استانبول پروسې له لارې په افغانستان کې د سولې او ثبات له ټینګښت څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. د دې ترڅنګ امریکا به د منځنۍ آسیا پنځو دولتونو سره خپلو کلنیو خبرو او مشورو ته دوام ورکړي.

**ب ـ له روسیې سره د همکاریو پراختیا**

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته د دې امکان ډېر لیدل کېږي چې په منځنۍ آسیا کې د امریکا او روسیې ترمنځ ستراتیژیکې سیالۍ پیل شي او د روسیې او امریکا ترمنځ د احتمالي سیالۍ پیل کېدل به په عمومي توګه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو او همکاریو د پراختیا مخه ونیسي. خو امریکایان مجبوره دي چې په منځنۍ آسیا کې له روسانو سره په ګډه کار وکړي او ماسکو ته د دې فرصت ورکړي چې په سیمه کې د سولې او ثبات ټینګښت په مهم رول ترسره کړي. له ماسکو

سره همکارۍ ته لومړیتوب ورکول به د امریکا او منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ د پراخو دوه اړخیزو امنیتي همکاریو پراختیا له خنډونو سره مخامخ کړي.

د سیمې ستونزو د حل او په سیمه کې د ثبات د ټینګښت په موخه د روسیې او امریکا همکاري مهمه ګڼل کېږي په منځنۍ آسیا کې د واشنګټن او ماسکو ترمنځ همکاري به په منځنۍ آسیا کې د چین او روسیې ترمنځ د احتمالي ائتلاف د جوړېدو مخه ونیسي د روسیې او چین ترمنځ د همکاریو پراختیا له یوه لوري په ختیځې آسیا او پاسفیک کې د امریکا ګټې زیانمنولای شي او له بل لوري د منځنۍ آسیا دولتونو سره د امریکا د پراخو مالي او اقتصادي مرستو مخه نیولای شي.

روسان هڅه کوي چې د امکان تر بریده په منځنۍ آسیا کې د امریکا د رول او اغېزې د پراختیا مخه ونیسي. خو په ورته وخت کې روسان په منځنۍ آسیا او سیمه کې د چین د اقتصادي او سیاسي اغېزې د پراختیا په اړه اندېښنې لري. روسان هیله مند دي چې په منځنۍ آسیا کې د چین، امریکا او نورو سترو قدرتونو د اغېز ترمنځ توازن وساتي او په دې توګه په منځنۍ آسیا کې خپلې ګټې خوندي کړي.

یو شمېر څېړونکي په دې اند دي چې روسان او امریکایان په منځنۍ آسیا کې یو شان او ورته اهداف لري د توندلاریتوب د خپرېدو او د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوی او په منځنۍ آسیا کې د ثبات ټینګښت او دوام د روسیې او امریکا مهمې او مشترکې موخې ګڼل کېږي. له همدې امل څېړونکي په دې اند دي چې په منځنۍ آسیا کې یو له بل سره همکاري د ماسکو او واشنګټن د ګټو له خوندیتوب سره مرسته کولای شي په منځنۍ آسیا کې یو له بل سره د همکاریو د پراختیا په موخه باید واشنګټن او ماسکو د هغو خنډونو چې د دوه اړخیزې همکارۍ د پراختیا پروړاندې او د هغو ستونزو په اړه چې د منځنۍ آسیا دولتونه ورسره مخامخ دي یو رښتینی او په واقعیتونو ولاړ لید لوری رامنځ ته کړي.

روسیه د سیمې په تړاو د خپلې ستراتیژۍ له مخې منځنۍ آسیا د خپلې اغېزې سیمه ګڼي او ماسکو د هغو ګواښونو په اړه ډېر جدي دی چې په سیمه کې یې د ملي امنیت پروړاندې شتون لري خو سره له دې ماسکو د دې امکانات او وړتیا نه لري ترڅو په سیمه کې امنیت خوندي کړي. د سیمې د امنیت په تړاو د ماسکو اندېښنو ته په پام سره یو شمېر امریکایي څېړونکي په دې باور دي چې واشنګټن باید روسانو ته ډاډ ورکړي چې د سیمې له هېوادونو سره د امریکا پوځي همکاري به په سیمه کې د روسیې ګټو ته هېڅ ډول زیان ونه رسوي او له بل لوري امریکایانو به د ګډو ګواښونو پروړاندې په ګډه له روسانو سره همکاري وکړي. د امریکا له لوري له روسیې سره د همکارۍ تګلار به له

یوه لوري د ماسکو او واشنګټن ترمنځ د اړیکو د خرابېدو مخه ونیسي او له بل لوري به په سیمه کې د امریکا د اغېز او رول محدودولو په موخه د روسیې او چین ترمنځ د احتمالي ملګرتیا او ائیتلاف د رامنځ ته کېدو مخه ونیسي.

له روسیې سره د همکارۍ د پراختیا او د اعتماد رامنځ ته کولو په موخه باید امریکایي چارواکي یو شمېر اقدامات ترسره کړي. امریکا باید روسانو ته ډاډ ورکړي چې په افغانستان کې د جګړې له پای ته رسېدو وروسته به په سیمه کې د امریکا پوځي شتون په هېڅ صورت سره د روسیې امنیتي ګټې زیانمنې نه کړي. د دې ترڅنګ امریکا لپاره ډېره مهمه ده چې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د پوځي همکاریو په اړه له روسانو سره مشوره وکړي او په دې اړه د هغوی توافق ترلاسه کړي.

اوسمهال روسان په منځنۍ آسیا کې د امریکا د پوځي شتون او تګلارو په اړه اندېښنې لري له همدې امله امریکایان باید په منځنۍ آسیا کې خپلې تګلارې روښانه کړي او په اړه یې له روسانو سره د معلوماتو شریکول به په سیمه کې د امریکا د شتون په اړه د روسانو اندېښنې او سیاستونه راکم کړي.امریکایي څېړونکي په دې باور دي چې له ماسکو سره سیالي په منځنۍ آسیا کې د امریکا ګټې زیانمنولای شي له همدې امله امریکایي مشران باید په منځنۍ آسیا کې له ماسکو سره له سیالي څخه ډډه وکړي.

له ازبکستان سره د امریکا اړیکې د واشنګټن او ماسکو د اړیکو په څرنګوالي د پام وړ اغېز لري په منځنۍ آسیا کې ازبکستان یو له هغو هېوادونو څخه چې غواړي له امریکا سره همکاریو او اړیکو ته پراختیا ورکړي او په دې توګه له روسیې سره په اړیکو کې توازن رامنځ ته او د روسیې اغېز راکم کړي له قزاقستان، قرغزستان او تاجکستان سره د روسیې نږدې اړیکې او همکاري او د روسیې د اغېزې محدودولو په موخه د ازبکستان هڅې منځنۍ آسیا له جیوپولټیک پلوه له سقوط سره مخامخ کړې ده.

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته په ازبکستان کې د امریکا د پوځي شتون دوام او له تاشکند سره د امریکا پوځي مرستې به د منځنۍ آسیا دولتونو ترمنځ د سیالۍ او رقابت د پراختیا سبب شي او په دې توګه به امریکایان د منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ په کړکېچ او بحران کې ښکېل شي امریکا غواړي د خپلو ستراتیژیکو اهدافو ترلاسه کولو لپاره په مرکزي آسیا کې پوځي شتون ولري خو د امریکا پوځي شتون باید د سیمې هېوادونو ترمنځ د سیالیو سبب نه شي. له همدې امله امریکایان هڅه کوي د منځنۍ آسیا له ټولو هېوادونو سره په اړیکو کې توازن وساتي او په دې اړه له ماسکو سره مشورې وکړي. واشنګټن هڅه کوي چې په منځنۍ آسیا کې د خپل شتون

په اړه د روسانو اندېښنو ته پاملرنه وکړي او ماسکو وهڅوي څو په سمیه کې د ثبات د ټینګښت په موخه رغونکی رول ترسره کړي.

واشنګټن نه غواړي په منځنۍ آسیا کې یوازې په یوه هېواد پورې ځان وتړي بلکې د منځنۍ آسیا له ټولو هېوادونو سره په اړیکو کې د توازن ساتلو هڅه کوي. امریکایي څېړونکي په دې اند دي چې امریکا باید روسان وهڅوي څو د منځنۍ آسیا هېوادونو د امنیتي ځواکونو د روزنې او د افغانستان او تاجکستان د ګډې پولې د امنیت ساتلو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي. په دې توګه په راتلونکې کې به د منځنۍ آسیا امنیت د ماسکو او واشنګټن ترمنځ د خبرو مهمه برخه وي امریکایان غواړي چې د روسیې د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو سره په مستقیمه توګه د منځنۍ آسیا د امنیت او د ماسکو د اندېښنو په اړه تماس ولري. د منځنۍ آسیا د امنیت په اړه خبرې به د روسیې او امریکا ترمنځ د همکاریو د پراختیا لپاره زمینه برابره کړي.

ماسکو د منځنۍ آسیا له لارې د افغانستان د نشه یي توکو د قاچاق په اړه اندېښنې لري د افغانستان نشه یي توکو قاچاق له یوه لوري د منځنۍ آسیا امنیت له ګواښ سره مخامخ کړی و او له بل لوري یې په اروپا کې د امریکا ملګري او متحدین له ستونزو سره مخ کړي وو. ماسکو د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي پروړاندې د مبارزې له هغه پروګرام سره چې امریکایانو رامنځ ته کړی و او ماسکو ته یې په کې د ګډون بلنه نه وه ورکړې مخالفت کړی. له همدې امله یو شمېر امریکایي څېړونکي په دې اند دي چې د نشه یي توکو د قاچاق د مخنیوي په موخه باید امریکایي چارواکي یو پراخ پلان او برنامه جوړه کړي او په یاد پروګرام او نوښت کې د روسیې، د منځنۍ آسیا دولتونو او افغانستان ته د مهم رول ترسره کولو فرصت برابر کړي. د نشه یي توکو پرضد مبارزې له لارې امریکا کولای شي د سیمې له هېوادونو سره خپلې همکارۍ ته دوام ورکړي.

**ج ـ په افغانستان کې د ناکامۍ مخنیوی**

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به په افغانستان کې روانه بې ثباتي او جګړه په مستقیم ډول د منځنۍ آسیا هېوادونو ثبات او امنیت اغېزمن کړي د افغانستان اوسني حالات د منځنۍ آسیا په امنیت او ثبات د پام وړ منفي اغېز کولای شي په افغانستان کې د جګړې د دوام په صورت کې به د نشه یي توکو په کښت او قاچاق کې د پام وړ زیاتی رامنځ ته شي. د افغانستان بې ثباتي او د نشه یي توکو قاچاق به د تاجکستان امنیت له جدي ننګونو سره مخامخ کړي.

اوسمهال په افغانستان کې د بې ثباتۍ د پراختیا په اړه جدي اندېښنې موجودې دي او په افغانستان کې د امریکا ماتې به په ټوله سیمه کې د امریکا اعتبار او حیثیت ته د پام وړ زیان ورسوي. د امریکا له لوري په افغانستان کې د ناڅرگندو اهدافو تعقیب او د افغانستان په تړاو مبهم سیاست د روسیې، چین او منځنۍ آسیا هېوادونو اندېښنې راپارولې دي د منځنۍ آسیا او سیمې یو شمېر څېړونکي په دې اند دي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل به د افغانستان او ټولې سیمې حالات لازیات خراب کړي.

هغوی په دې اند دي که امریکا د منځنۍ آسیا هېوادونو ملاتړ او باور ترلاسه کول غواړي نو په دې صورت کې باید په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینگښت په برخه کې مهم رول ترسره کړي له همدې امله د امریکا لپاره ډېره مهمه ده چې په افغانستان کې د اقتصادي او سیاسي سقوط مخه ونیسي او له افغانستان څخه خپل ملاتړ ته دوام ورکړي. که امریکا د افغانستان پروړاندې خپل تعهدات عملي نه کړي نو په دې صورت کې به د منځنۍ آسیا هېوادونه د امریکا پرځای له چین او روسیې سره د اړیکو او همکاریو پراختیا ته لومړیتوب ورکړي او په دې توگه به له یوه لوري په منځنۍ آسیا کې د امریکا رول او اغېز محدود شي او له بل لوري به په منځنۍ آسیا کې د امریکا د دوو مهمو سیالانو روسیې او چین رول او اغېز پراختیا پیدا کړي.په دې توگه ویلای شو چې د امریکا له لوري د افغانستان یوازې پرېښودل به په ټوله سیمه کې د امریکا دریځ او موقف ته زیان ورسوي، د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران به په امریکا اعتماد او باور له لاسه ورکړي، په سیمه کې به د امریکا اغېز محدود شي او امریکایان به د منځنۍ آسیا په چارو او سیاست کې خپل اغېز له لاسه ورکړي.

**د ـ په منځنۍ آسیا کې ښې حکومتولۍ ته پراختیا ورکول**

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د منځنۍ آسیا په دولتونو د امریکا تکیه کول راکم شي او په دې توگه امریکایي چارواکي به د دې فرصت ترلاسه کړي چې د منځنۍ آسیا هېوادونو په مشرانو فشارونه راوړي او هغوی په کور دننه اصلاحاتو تطبیق ته وهڅوي. امریکا په ۲۰۰۵ زکال کې په ازبکستان هېواد کې د رامنځ ته شوي تاوتریخوالي له امله نیوکې کړې وې چې په پایله کې ازبکستان په خپله خاوره کې د امریکا پوځي اډه بنده کړه.

د ازبکستان له لوري د امریکایي ځواکونو پروړاندې د خان آباد اډې له بندولو وروسته امریکایي چارواکو د منځنۍ آسیا په دولتي مشرانو له نیوکو کولو څخه ډډه کوله

او په تکراري توګه يې هڅې کولې چې په افغانستان کې د خپل ماموريت د بريا په موخه د مرکزی آسيا دولتونو ملاتړ ترلاسه او د ياد ملاتړ د دوام په اړه ډاډ ترلاسه کړي.

اوسمهال د منځنۍ آسيا دولتونه غواړي چې امريکا په منځنۍ آسيا او سيمه کې د امريکا پوځي شتون ته دوام ورکړي د منځنۍ آسيا دولتونو مشران په سيمه کې د امريکا پوځي شتون له يوه لوري د خپل داخلي امنيت او له بل لوري د سيمه ييز امنيت د خونديتوب لپاره مهم ګڼي امريکايان چې اوس د منځنۍ آسيا هېوادونو همکارۍ ته زياته اړتيا نه لري کولای شي د منځنۍ آسيا په دولتونو فشار راوړي او د منځنۍ آسيا هېوادونو مشران د اصلاحاتو عملي کولو ته وهڅوي. امريکا غواړي چې د منځنۍ آسيا هېوادونو سره د ښې حکومتۍ، اداري فساد پرضد مبارزې، د عامه خدماتو وړاندې کولو او قضايي او امنيتي اصلاحاتو په برخو کې مرسته او همکاري وکړي او په دې توګه به منځنۍ آسيا کې د ناکامو دولتونو د رامنځ ته کېدو مخه ونيسي او سيمه ييزې سوداګرۍ ته پراختيا ورکړي.

د امريکا له لوري په ښې حکومتولۍ رامنځ ته کولو ټينګار کول به په منځنۍ آسيا کې د بې ثباتۍ داخلي عوامل له منځه يوسي. امريکايان په دې پوهيږي چې د ډيموکراسي د پراختيا په موخه د دوی هڅې به د منځنۍ آسيا هېوادونو، روسيې او چين له لوري له مخالفتونو سره مخامخ شي له همدې امله امريکا غواړي د ډيموکراسۍ د پراختيا پرځای د ښې حکومتولۍ رامنځ ته کولو لپاره هڅې وکړي. امريکا غواړي په سيمه کې د ثبات د ټينګښت په موخه سيمه ييزه همکاري او سيمه ييزه سوداګري پراختيا پيدا کړي امريکايي چارواکي په دې اند دي، چې د سيمه ييزې همکارۍ پراختيا به په منځنۍ آسيا کې د ناکامو دولتونو د رامنځ ته کېدو مخه ونيسي امريکايي چارواکي هڅه کوي چې له يوه لوري په منځنۍ آسيا کې د اروپايي اتحاديې، د اروپا د امنيت اوهمکاريو سازمان او د ملګرو ملتونو د پراختيا سازمان رول او نقش پياوړی کړي او له بل لوري په منځنۍ آسيا کې د خصوصي سکتور او مدني ټولنې له غړو او استازو سره خپلو اړيکو او همکاريو ته پراختيا ورکړي.

### هـ ـ د ځواکونو کمول

له افغانستان څخه د امريکايي ځواکونو له وتلو وروسته په منځنۍ آسيا او سيمه کې د امريکايي ځواکونو د شتون په اړه روسان انديښنې لري او په دې توګه ويل کېږي چې په سيمه کې د امريکايي ځواکونو د شتون څرنګوالی به په راتلونکې کې د ماسکو او واشنګټن ترمنځ د اړيکو د خرابېدو او د کړکېچ سبب شي. امريکا په سيمه کې د خپلو ځواکونو د شمېر، فعاليتونو او رول په اړه معلومات نه دي خپاره کړي. د امريکا له لوري

په سیمه کې د خپلو ځواکونو د شمېر او رول په اړه د معلوماتو نه خپرېدو روسي مشران اندېښمن کړي دي. له همدې امله امریکایي څېړونکي په دې باور دي چې امریکا باید په منځنۍ آسیا او افغانستان کې د خپلو ځواکونو او پلانونو په اړه معلومات خپاره کړي او په دې توگه روسانو ته ډاډ ورکړي چې په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د امریکایي ځواکونو د شتون هدف په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینگښت دی.

په منځنۍ آسیا او افغانستان کې د اوږدمهال لپاره د زیات شمېر ځواکونو ځای پرځای کول به له یوه لوري د روسیې او چین له مخالفتونو سره مخامخ شي او له بل لوري به د منځنۍ آسیا هېوادونو د امریکا تکیه زیاته کړي او په منځنۍ آسیا کې به د اداري فساد له پراختیا سره مرسته وکړي. له همدې امله یو شمېر امریکایي څېړونکي په دې اند دي چې امریکا باید په منځنۍ آسیا کې د دایمي پوځي اډو له جوړولو څخه ډډه وکړي او د دایمي پوځي اډو پرځای دې د سیمې له هېوادونو سره داسې تړونونه لاسلیک کړي چې له مخې یې امریکایان وکولای شي په جنوبي آسیا او منځنۍ آسیا کې د بحران د مخنیوي په هدف د منځنۍ آسیا دولتونو له پوځي تأسیساتو د لنډې مودې لپاره گټه واخلي.

په افغانستان او سیمه کې د خپلو اهدافو ترلاسه کولو لپاره امریکایان هڅه کوي چې د منځنۍ آسیا له ټولو هېوادونو سره تړونونه لاسلیک کړي او له ټولو هېوادونو سره همکاري او اړیکې ولري امریکایان نه غواړي چې په سیمه کې له یو ځانگړي هېواد او دولت سره همکاري ولري او تکیه پرې وکړي.

**پایله**

د ۲۰۰۱ زکال د سپټمبر په ۱۱مه امریکا کې د نړیوالې سوداگرۍ په مرکز تر بریدونو وروسته په نړیوالو اړیکو او نړیوال سیاست کې مهم او ژور بدلونونه رامنځ ته شول امریکا د طالبانو د واکمنۍ ړنگولو په موخه په افغانستان پوځي برید وکړ، د طالبانو واکمني د امریکا د برید په پایله کې ړنگه شوه او د حامد کرزي په مشرۍ د افغانستان نوی حکومت رامنځ ته شو.

د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر د منځنۍ آسیا هېوادونو هم په افغانستان کې د امریکا له عملیاتو او شتون او د حامد کرزي په مشرۍ د افغانستان له نوي حکومت څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. د دې ترڅنگ د منځنۍ آسیا یو شمېر هېوادونو په خپله خاوره کې امریکا ته پوځي اډې ورکړې امریکایي ځواکونو ته یې له خپلې خاورې او هوا څخه د استفادې اجازه ورکړه، د منځنۍ آسیا په یو شمېر هېوادونو کې امریکایي ځواکونه ځای پرځای شول،

او په دې توگه د امریکا او منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ په اړیکو کې یوه نوې دوره پیل شوه او د دواړو لورو ترمنځ اړیکو او همکاریو پراختیا پیدا کړه.

د طالبانو او القاعدې پرضد جگړه او په افغانستان کې د خپلو اهدافو ترلاسه کولو په موخه امریکا د منځنۍ آسیا هېوادونو مرستې او همکارۍ ته اړتیا درلوده په افغانستان کې د جگړې له امله د منځنۍ آسیا هېوادونو د امریکا په بهرني سیاست کې ځانگړی ځای او اهمیت پیدا کړ. د منځنۍ آسیا هېوادونه چې د طبیعي منابعو پراخې زېرمې لري د روسیې د دودیزې اغېزې سیمه او ساحه گڼل کېږي خو له ۲۰۰۱ زکال راهیسې په منځنۍ آسیا کې د امریکا رول او اغېزې پراختیا پیدا کړه او اوسمهال امریکایان هڅې کوي چې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره خپلو اړیکو او همکاریو ته لازیاته پراختیا ورکړي خو روسان بیا په منځنۍ آسیا کې د امریکا د رول او اغېزې د پراختیا په اړه اندېښنې لري.

روسان منځنۍ آسیا د خپلې اغېزې سیمه گڼي او په منځنۍ آسیا کې د بهرنیو سترو قدرتونو د رول او اغېزې له پراختیا سره مخالف دي او هغه خپلو ملي گټو او ملي امنیت ته گواښ گڼي.

روسي مشران په دې اند دي چې په منځنۍ آسیا کې د امریکا د رول او اغېزې پراختیا به په منځنۍ آسیا کې د روسانو له سیاسي، اقتصادي او پوځي پلوه له روسیې څخه لرې او امریکا او لوېدیځ ته نږدې کړي د روسانو مهمه او اساسي اندېښنه په منځنۍ آسیا کې د امریکا د پوځي اډو او پوځي شتون په اړه ده روسي چارواکي په سیمه او په ځانگړي توگه په منځنۍ آسیا کې د امریکا له اوږدمهاله او دایمي پوځي شتون سره په کلکه مخالف دي. د امریکا مبهم سیاستونه او تگلارې د دې سبب شوي څو د روسانو اندېښنې زیاتې شي او روسي مشران په سیمه کې د امریکا د شتون او اهدافو په اړه بدگمانه او شکمن شي.

امریکایان غواړي چې په منځنۍ آسیا او سیمه کې خپلې گټې او اهداف ترلاسه کړي. د نشه یي توکو د قاچاق مخنیوی، د توندلارو ډلو پرضد مبارزه، د توندلارو ډلو رول او اغېزې د پراختیا مخنیوی، سیمه ییزې همکارۍ ته پراختیا ورکول، په منځنۍ آسیا کې د ناکامو دولتونو د رامنځ ته کېدو مخنیوی، په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینگښت، د خپلو پوځي لگښتونو کمول او منځنۍ آسیا له نړیوالې ټولنې سره تړل په منځنۍ آسیا کې د امریکا مهمې موخې او گټې گڼل کېږي.

د امریکا لپاره به ډېره ستونزمنه او حتی نامکنه وي چې د روسیې له مرستې او همکارۍ پرته په مرکزی آسیا کې خپل اهداف او گټې ترلاسه کړي. روسیه په منځنۍ آسیا کې د پام وړ رول او اغېز لري او کولای شي د امریکا د گټو او اهدافو پرواندې جدي ستونزې رامنځ ته او په منځنۍ

آسیا کې د امریکا شتون او ګټې له ننګونو سره مخامخ کړي. د دې ترڅنګ روسان کولای شي له چین سره په ګډه په منځنۍ آسیا کې د امریکا پرضد یو سیمه ییز ائیتلاف رامنځ ته کړي. امریکایان هڅه کوي چې د روسانو اندېښنو ته پاملرنه وکړي او په منځنۍ آسیا کې د خپل پوځي شتون په تړاو له روسانو سره مشورې وکړي.

د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران په دې باور دي چې په سیمه کې د امریکا پوځي شتون کولای شي په سمیه کې د سولې او ثبات له ټینګښت سره مرسته وکړي له همدې امله د منځنۍ آسیا هېوادونه په افغانستان کې د امریکا د ماموریت د بریا لپاره له امریکا سره مرسته او همکاري کوي. د دې ترڅنګ د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران له امریکا سره اړیکې او همکاري له یوه لوري د مالي او اقتصادي مرستو ترلاسه کولو لپاره مهمه ګڼي او له بل لوري هغوی په دې اند دي چې له امریکا سره همکاري به په منځنۍ آسیا کې د روسانو اغېز او رول محدود کړي د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران له یوې اوږدې مودې راهیسې هڅې کوي چې د روسیې د اغېزې کمولو په موخه له چین او امریکا سره اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي.

د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران په افغانستان کې د روانې جګړې، بې ثباتۍ او په سیمه کې د توندلارو ډلو د رول او اغېزې د پراختیا په اړه اندېښنې لري او په دې باور دي چې ماسکو او بیجینګ نه شي کولای په سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت او د توندلارو ډلو د اغېزې د پراختیا مخنیوي په برخه کې مرسته او همکاري وکړي. له همدې امله د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران په افغانستان او سیمه کې د امریکا له شتون څخه ملاتړ کوي.امریکایان غواړي چې په افغانستان کې خپل پوځي لګښتونه راکم کړي او له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي. له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به منځنۍ آسیا د امریکا لپاره خپل پخوانی ارزښت او اهمیت له لاسه ورکړي. او په دې توګه به د منځنۍ آسیا له هېواونو سره د امریکا مالي او اقتصادي مرستې او منځنۍ آسیا ته د امریکا پاملرنه کمه شي د منځنۍ آسیا هېوادونو او امریکا ترمنځ د اړیکو او همکاریو څرنګوالی په راتلونکي کې د افغانستان او سیمې په سیاسي، اقتصادي او امنیتي حالاتو پورې تړلی ګڼل کېږي. ترڅو پورې چې امریکایي ځواکونه په افغانستان کې مېشت وي امریکا به د منځنۍ آسیا هېوادونو مرستې او همکارۍ ته اړتیا ولري او په مقابل کې به یې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د امریکا اړیکې او همکاري دوام پیدا کړي.

**وړاندیزونه**

۱- د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي چې په سیاسي، اقتصادي، امنیتي او فرهنګي برخو کې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره خپلو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي د منځنۍ آسیا او افغانستان ترمنځ د اړیکو او همکاریو پراختیا د امریکا او منځنۍ آسیا هېوادونو ترمنځ د اړیکو د لازیاتې پراختیا لپاره زمینه او شرایط برابرولای شي.

۲- د منځنۍ آسیا هېوادونه او امریکا په سیمه کې د نشه یي توکو د کښت او قاچاق، د توندلارو ډلو د رول او اغېزې د پراختیا، سازمان شویو جرایمو او د ناامنۍ او جګړې د شتون او پراختیا په اړه اندېښنې لري. د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي چې د نشه یي توکو د کښت او قاچاق د مخنیوي، د توندلارو ډلو د اغېز محدودولو او په سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه عملي میکانیزمونه او تګلارې رامنځ ته کړي او له امریکا او د منځنۍ آسیا هېوادونو سره په ګډه د یادو تګلارو د عملي کولو لپاره هڅې وکړي.

۳- امریکا او د منځنۍ آسیا هېوادونه غواړي چې سمیه ییزه همکاري پراختیا پیدا کړي. د افغانستان حکومت باید د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه له موجودو فرصتونو څخه سالمه او اغېزمنه استفاده وکړي او د سیمې هېوادونو او به ځانګړي توګه د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د همکاریو د پراختیا په موخه ځانګړې ستراتیژي رامنځ ته او تطبیق کړي د امریکا او منځنۍ آسیا هېوادونو بهرنیو تګلاو ته په پام سره ویل کېږي، چې امریکا او د منځنۍ آسیا هېوادونه به د سیمه ییزې همکارۍ د پراختیا په موخه د افغانستان له ستراتیژۍ څخه ملاتړ وکړي.

۴- د منځنۍ آسیا هېوادونو مشران او امریکایي چارواکي په افغانستان کې د روانې جګړې او بې ثباتۍ د دوام په اړه اندېښنې لري د افغانستان حکومت باید داسې تګلار رامنځ ته کړي چې په وسله یې وکولای شي په افغانستان کې د سولې او ثبات د ټینګښت په موخه د منځنۍ آسیا هېوادونو او امریکا ملاتړ ترلاسه کړي.

۵-روسان او چینایان په افغانستان او منځنۍ آسیا کې د امریکا د پوځي اډو او پوځي شتون په اړه اندېښنې لري. روسیه او چین په افغانستان او مرکزی آسیا کې د امریکا او ناټو له دایمي پوځي اډو او اوږدمهاله پوځي شتون سره مخالف دي د افغانستان حکومت باید له چین او روسیې سره د اړیکو او همکاریو د پراختیا په موخه ځانګړې بهرنۍ پالیسي جوړه او تعقیب کړي. د دې ترڅنګ د افغانستان حکومت باید روسانو او چینایانو ته ډاډ ورکړي چې د افغانستان خاوره به د سیمې هېوادونو په ضد ونه کارول شي او په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د شتون په اړه د روسانو اندېښنو ته پاملرنه وکړي.

٦- د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي د سیمې له ټولو هېوادونو سره په اړیکو کې توازن په پام کې وساتي، د سیمې له هېوادونو او سیمه ییزو سازمانونو سره اړیکو او همکاریو ته د پراختیا ورکولو په موخه فعاله ډیپلوماسي تعقیب کړي د سیمې هیوا دونو سره په اړیکو کې توازن ساتل په افغانستان کې د سولې او ثبات له ټینګښت سره زیاته مرسته کولای شي.

## مأخذونه


1 - U.S. Air Force," Transit Center at Manas: Fact Sheet,"July 10,2010,http:// https://www.afcent.af.mil/library/factsheets/factsheets.asp?id=12682

2 - Deirdre Tynan, Turkmenistan: Ashgabat Hosts Us Military Refuelling, Resupply Operations, Eurasianet, July 8, 2009,https://eurasianet.org/turkmenistan-ashgabat-hosts-us-military-refuelling-resupply-operations

3 - Andrew C. Kuchins, S. Frederick Starr,David A. Gordon,Thomas M. Sanderson,The Northern Distribution Network and the Modern Silk Road Planning for Afghanistan's Future, Center for Strategic and International Studies (CSIS),December 17, 2009, https://www.csis.org/analysis/northern-distribution-network-and-modern-silk-road

4 - A MAJORITY STAFF REPORT PREPARED FOR THE USE OF THE COMMITTEE ON FOREIGN RELATIONS UNITED STATES SENATE , CENTRAL ASIA AND THE TRANSITION IN AFGHANISTAN, WASHINGTON, DECEMBER 19, 2011,(29 Pages), https://www.foreign.senate.gov/imo/media/doc/71639.pdf

5 -Deirdre Tynan ,Central Asia: Who's the Big Winner in the NDN Sweepstakes?, Eurasianet, Feb 7, 2012, https://eurasianet.org/central-asia-whos-the-big-winner-in-the-ndn-sweepstakes

6 - embassy of the republic of kazakhstan in switzerland,Commitment to Assist Afghanistan, http://www.kazakhstan-bern.ch/en/?page_id=403

7 - Ravshan M. Alimov, The Situation in Afghanistan: Challenges and Opportunities for Central Asia, Dialogue January-March, 2012, Volume 13 No. 3, http://www.asthabharati.org/Dia_Jan012/rav.htm

[8]_NorthernAlliance,globalsecurity.org,https://www.globalsecurity.org/military/world/para/northern_alliance.htm
[9] -16_CHINMAYA R. GHAREKHAN and KARL F. INDERFURTH, An Umbrella for Afghan Stability, The New York Times, JUNE 29, 2012, https://www.nytimes.com/2012/06/30/opinion/an-umbrella-for-afghan-stability.html
[10] - Christine Cannata,CENTRAL ASIA: ISSUES IN REGIONAL TRADE AND INTEGRATION,Atlantic Council,10 June 2013, https://www.aaas.org/news/atlantic-council-central-asia-issues-regional-trade-and-integration
[11] -Bruce Pannier,Central Asian States Profess Unity, But Grow Farther Apart, Radio Free Europe/Radio Liberty, August 03, 2009, https://www.rferl.org/a/Central_Asian_States_Profess_Unity_But_Grow_Farther_Apart/1791740.html
[12] -*George Gavrilis*, Why Regional Solutions Won't Help Afghanistan: The Myth of Neighborly Harmony, foreignaffairs, October 18, 2011, https://www.foreignaffairs.com/articles/afghanistan/2011-10-18/why-regional-solutions-wont-help-afghanistan
[13] - EDB ,Water and Energy Resources in Central Asia: Utilization and Development Issues. April 2008. EDB Industry Report no.2, https://eabr.org/en/search/?q=water+and+energy+resources+in+central+asia+
[14] -Vladimir Socor, Tajikistan Seeks Shorter Term, Better Compensation for Russian Military Base, Jamestown foundation, *July 9, 2012 , https://jamestown.org/program/tajikistan-seeks-shorter-term-better-compensation-for-russian-military-base/*
[15] -Deirdre Tynan, Tajikistan: Dushanbe Dangling Ayni Air Base Before Russia, Eurasianet, October 19, 2010, https://eurasianet.org/tajikistan-dushanbe-dangling-ayni-air-base-before-russia
[16] - World Economic Outlook Database, The International Monetary Fund (IMF), April,2012,*https://www.imf.org/en/Publications/WEO/Issues/2016/12/31/Coping-with-High-Debt-and-Sluggish-Growth*
[17] - Eric McGlinchey, Central Asia Grows Wobbly, CURRENT HISTORY, October 2012,Pp_275-280,

https://pdfs.semanticscholar.org/3a9b/e497c6403cc9da9ee70b0eff154e5fdaeef8.pdf

[18] - The International Crisis Group,Tajikistan: On the Road to Failure, REPORT 162, CRISISGROUP.ORG ,12 FEBRUARY 2009, HTTPS://WWW.CRISISGROUP.ORG/EUROPE-CENTRAL-ASIA/CENTRAL-ASIA/TAJIKISTAN/TAJIKISTAN-ROAD-FAILURE

[19] - Richard Rousseau, A Stable Afghanistan Is Unlikely Without a Secure Tajikistan, Khazar University, May,2012,http://dspace.khazar.org/jspui/handle/20.500.12323/2030,http://dspace.khazar.org/jspui/bitstream/20.500.12323/2030/1/A%20Stable%20Afghanistan%20Is%20Unlikely%20Without%20a%20Secure%20Tajikistan.pdf

[20] - Addicted: *Heroin stabilises a poor country, The economist, April* 21st 2012, *https://www.economist.com/asia/2012/04/21/addicted*

[21] -David Trilling, Organized Crime Helps Stoke Instability in Kyrgyzstan's Southern Provinces, Eurasianet ,May 17, 2010, https://eurasianet.org/organized-crime-helps-stoke-instability-in-kyrgyzstans-southern-provinces

[22] - UN Office on Drugs and Crime(UNODC) *OPIATE FLOWS THROUGH NORTHERN AFGHANISTAN AND CENTRAL ASIA: A THREAT ASSESSMENT*,UNODC,May,2012,Pp 72-75,(101 Pages), https://www.unodc.org/documents/data-and-analysis/Studies/Northern_Afg_Central_Asia_Opiate_flows_2012_draft_jan26_2012.pdf

[23] - Tajikistan: Islamic Militancy No Phantom Menace, Institute for War and Peace Reporting, 10 May 2011, https://www.refworld.org/docid/4dd261921a.html

[24] -Robert Coalson, Violence In Tajikistan's Badakhshan Province A Legacy Of Civil War, Radio Free Europe/Radio Liberty, July 26, 2012 15, https://www.rferl.org/a/explainer-violence-in-tajikistan-badakhshan-province-a-legacy-of-the-civil-war/24657769.html

[25] -Martha Brill Olcott, Marina Barnett, The Andijan Uprising, Akramiya and Akram Yuldashev, Carnegie Endowment for International Peace, carnegieendowment.org,June 22,2006, https://carnegieendowment.org/2006/06/22/andijan-uprising-akramiya-and-akram-yuldashev/1gi

[26] - The International Crisis Group ,Central Asia: Islamists in Prison, BRIEFING 97, CRISISGROUP.ORG, 15 DECEMBER 2009, HTTPS://WWW.CRISISGROUP.ORG/EUROPE-CENTRAL-ASIA/CENTRAL-ASIA/CENTRAL-ASIA-ISLAMISTS-PRISON

[27] - Dmitri V. Trenin, Post-Imperium: A Eurasian Story, Carnegie Endowment for Int'l Peace,2011,( 279 Pages),Pp_13,16,128. https://carnegieendowment.org/pdf/book/post-imperium.pdf

[28] - Anna Matveeva, Selective Engagement: Russia’s Future Role in Central Asia, Central Asia Policy Brief No. 3, 8 July, 2012, http://centralasiaprogram.org/archives/7653

[29] - U.S Department of State, Executive Budget Summary: Function 150 and other international Programs, Fiscal Year 2013,(180 Pages) https://www.state.gov/documents/organization/183755.pdf

[30] - Robert Blake interview with al Jazeera, TV interview, U.S Department of State,March 25,2012, https://www.state.gov/p/sca/rls/rmks/2012/187005.htm

[31] - Deidre tynan ,U.S. armed forces to remain at airbase for afghan resupply operations, eurasianet.org, june, 2009, https://eurasianet.org/departments/insightb/articles/

[32] - U.S. Assistant Secretary of State for South and Central Asian Affairs Robert Blake,U.S. Looks To Extend Use Of Kyrgyz Base, Radio Free Europe/Radio Liberty, March 27, 2012, https://www.rferl.org/a/kyrgyzstan_united_states_manas_blake/24529392.html

[33] -Zabikhulla S. Saipov, New Foreign Policy Strategy Paper Codifies Uzbekistan’s Reluctance Toward Restrictive Alliances, Eurasia Daily Monitor Volume: 9 Issue: 153,The Jamestown Foundation,*August 10, 2012, https://jamestown.org/program/new-foreign-policy-strategy-paper-codifies-uzbekistans-reluctance-toward-restrictive-alliances/*